هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانگرآرمان اتحاد اسلامي افغانستان

پرله پسی گڼه «۲۰۸» اوم کال «۱۰» گڼه دوشنبه د ۱۳۷۰ هـ ق کال د جـرزا «۶» د ۱۴۱۱ هـ ق کـال ذوقعـدی «۱۳» د ۱۹۹۱ میـلادی کـــال دمـــی «۲۷»

PROPERTY OF ACKU

ARIC

پوهاند سیاف د افغانستان په باب د ملگرو ملتونو د سرمنشي وروستی پنځه نقطه ایزه طرحه په پوره توگه رد کړه

د افغانستان د اسلامی اتحاد امیر اود عبوری حکومت صدراعظم پوهاند عبدرب الرسول« سیاف » د ملگروملتونو د سرمنشی « هاپیرپیریزدیکویلار »هغه نوی پنځه نقطه ایزه سیاسی طرحه چی د افغانستان د قضیې د سیاسی حل لپاره

پی وړاندی کړیده د خپل یورسمی مطبوعاتی بیان په ترڅ کې چی د البنیان د خبری اژانس له لیاری خپورشوی په لاندي ډول په غوڅ او پوره ډول رد کړیده.

۱- پدی طرحه کې هغوکسانوته چې دوطن د ازادی په لارکې یې له یونیم ملیون

څخه زیات شهیدان ورکړی په سپکه کتل شویدی ، ځکه ددنیا تعامل اودملگروملتونو تعامل خو تراوسه په دی روان ؤ چې یوی دوي اومحدودي گوندتاچې ولې ته به یې هم داحق ورکاوه چې د موقتی دوری لپاره د خپل ولس نمایندگی وکړی اوکنترول

اوحکومت وړباندی ولری اومثالونه یې زیات دی . نو د افغان مجاهد ولس دغسی یو قاطع اکثریت ته چې پوره قربانی یې هم ورکړی دی ولی پدی حق قایل ندي چې د یوې موقتی دوری حکومت دی د دوی په لاس کې وی ؟

۲- دا طرحه دواړه متخاصمې ولې د پوره طاقت سره د یوه چټرلاندی یاد یوه نظام په غیږکې راجمع کوی ، ددي معنا داده چې یوه وُره حادثه به هم کفایت کوی چې د عام داخلی برخورد سبب وگرځی

له روس او امریکا سره پټ تماسونه او د هغو قانع کول زموږ مشکل نه حل کوي موږ باید په خپلو کښې یوبل ته قناعت ورکړو او د اتحاد له لارې خپل مشکل حل کړو

د افغانستان د جهاد د ملی او بین المللی وضعی د څیړلو په منظور د ثور په ۳۱ نیټه د شهید استاد غلام محمد نیازی په تالارکښې یوه غونډه جوړه شوی وه . په دغې غونډه کښې د افغانستان د اسلامی اتحاد په ارکانو برسیره یوشمیر جهادي شخصیتونوهم

گډون کړی ؤ .

غونډه د سهار په نهوبجو د قرانکریم د څو مبارکو ایتونو په تلاوت سره پیل شوه او بیا ورسته د افغانستان د اسلامی عبوری حکومت صدراعظم محترم استاد سیاف اودافغانستان د اسلامی اتحاد معاون

محترم انجنیراحمدشاه وینناوی وکړي .

محترم استاد سیاف په خپله ویناکښې د افغانستان د موضوع حل ته گوته ونیوله اوویې ویل : د افغانستان موضوع د کمونیستانو سره د پټو لیدنو کتنو بین المللی سازشونو له لاری نه حل کیږي بلکې د افغانستان موضوع

یواځی د روان جهاد په تداوم سره حل کیدای شی .

محترم استاد سیاف دهغوهیوادونو په هکله چې په نړیوال ډگرکښې یوځه رول لری اودافغانستان د مسئلې د حل له پاره هلی ځلي کوی وویل : داهغې زموږ د اسلامی اهدافو پرخلاف دی

هغوی غواړی چې په افغانستان کښې دي یو بی طرفه او مختلط نظام جوړشي اوله همدې لارې نه هغې کوي خو د نړۍ پرمخ د یوه اسلامی حکومت دراميڅ ته کیدو مخه ونیسی .

استاد سیاف زیاته کړه اوس په دې برخه کښې له مسکو ، کابل

اوملگروملتونو سره پټې خبرې اترې رواني دی اود نړیوال سیاست اوطرحي د ملاتړ په باب دوه نظریې را مینځ ته شوی دی : یوه یې د مجاهدینو اوکمونیستانو ترمینځ د یوه گډ او مختلط نظام جوړول اویله د بې طرفه کسانو قدرت ته رسول دی .

استاد سیاف دغه ټول کوښښونه وغندل اوویې ویل : په افغانستان کښې بیطرفه حکومت جوړول اودهغه مثل له راتلونکي سره ټکردی . دلته بیطرفه کسان هغه څوك دی چه نه اسلام سره دی اونه نه کفر سره ، نودلته دریم ځای نه پاتې کیږی . ځکه دایې طرفی د مسلمانانو ترمینځ نه ده بلکې دا د ایمان اوکفر ترمینځ ده اوداسې بیطرفه حکومت زموږ په نظرکافردی . پاتې شو د کمونیستانو او زندیقانو سره حکومت جوړول . له هغوسره هم د حکومت جوړول امکان نلری ځکه چې کمونیستان زندیقان او مرتدان دی

اوهغوکسانو سره چې په اسلام کښې د ژوند حق نلری څنگه حکومت جوړکړو ؟ بناء له کمونیستانوسره هم حکومت جوړول ناروادی . که چیرې له هغوسره یوگړ حکومت جوړول مناسب وی نودا دومره قربانی ، مهاجرتونه اوستونزې د څه لپاره وې . ولې له داؤد ، ترکی او امین سره نه یوځای کیدو .

استاد سیاف د افغانستان د اینده نظام په هکله وویل : زموږ ددې دیارلس کلن جهاد یوازینی هدف د کلمة الله لوړول اودنړی پرمخ د یوه سوچه اسلامی نظام قایمول اوټینگول دی . دغه سترهدف ته هغه کسان انشاء الله رسیږی چه پرالله ایمان ولری اودهغه په لاره کښې یې جهاد کړی وی .

استاد سیاف د خپلې وینا په یوه بله برخه کښې د تنظیمونو اختلاف ته گوته ونیوله اود مخلصو قوتونو له اتحاد نه پرته یې د افغانستان د جهاد نتیجه

ع.ع

محترم استاد سیاف دافغانستان دجهاد دملي اوبین المللي وضعي دڅیړلو په غونډه کښې دوینا په حال کښې

قیام عمومي در ولایت هرات ، رژیم مزدور کابل را درآستانهء سقوط قرارداده است

نمایندگی (میدیا) ازکویته به نقل ازاخبار رسیده ازولایت هرات خبرداده است ، مردم شهرمحاصره شده هرات جمعه گذشته (۲۴) می بعد از ادای نماز جمعه ، به عنوان اعتراض علیه عملیات جنگی زمینی و هوائی درآن

ولایت ، دست به تظاهرات زده ، عمل رژیم را بحیث جنایت نابخشودنی محکوم نمودند .

همچنان اجتماعات مشابهی از مساجد جامع خرقه، مبارك پای مردان و شهزاده ها تشکیل و بعداً مظاهرات

وسیعی درسراسرشهر براه انداخته شد. وحملات (۲۱) روزه رژیم را ــ که درآن عده، از هموطنان ما به درجه شهادت نایل و بسیاری از قری و قصبات با خاك یکسان گردیده است بشدت محکوم کردند .

مجاهدینو دجوزجان ولایت دسرپل په ولسوالي کښې دکابل رژیم ۱۲ پوستي ویجاړې کړیدي

په پیښورکې دمجاهدینو یوخبرځای ویلي دي چې مجاهدینو دمي په (۲۱) نیټه دجوزجان ولایت دسرپل په ولسوالي کې د « لغمان» دسیمي دکلیو پرپوستو برید وکړ ، چې دغې په نتیجه کې دملحد رژیم (۱۲) پوستي ویجاړې (۲۳۰) تنه ملیشه اوعسکر مړه او (۶۱) تنه نوریې ژوندي نیولي شویدي .

ریوټ زیاتوي چې دمجاهدینو ددغه برید په اثر ددغې سیمې پنځه کلي درژیم دقواو دوجود نه پاك شوي دي .

دخبرځاي دریوټ مطابق مجاهدینو پدې بریدکې دملحد رژیم له عسکرونه (۱۹۳) میله ډول ډول سپکې او درندې وسلې دیوزیات شمیر مهماتو سره ولجه کړیدي .

خبرځاي زیاتوي پدې جگړه کې دمجاهدینو څخه اوه تنه شهیدان او (۱۱) تنه نورټپیان شویدي .

دهمدې خبرځاي دیویل خبرله مخې مجاهدینو دمي په (۱۶) نیټه دشبرغان دښار دنفت اوگاز دمعدن پر پوستو عملیات ترسره کړل ، چې دهغې په اثر دکابل رژیم پنځه تنه عسکر اوملیشه مړه ، دري تنه ټپیان او هم ددښمن قواؤ یوه عراده ټانك دسپرلیو سره له مینځه وړل شوي دي (میدیا)

درولایت بلخ ۴۳ تن از افراد رژیم هلاك و ۴۷ تن دیگر مجروح گردیدند

یك منبع مجاهدین به (میدیا) گزارش داد که مجاهدین بروز (۲۱) می بالای کاروان نظامی ملیشه های جوزجانی که ازمرکز ولایت بلخ به طرف غرب ولسوالی « چهاربولك » حرکت میکرد درمنطقه « قریه » شورتپه » حمله نموده ودرنتیجه (۳) نفرصاحب منصب و (۷) نفر ملیشه رژیم را هلاك و (۱۵) نفردیگر را با ۱۶ میل اسلحه مختلف الشوع به اسارت خود درآوردند .

همچنان طبق یك خبردیگر ، مجاهدین به روز ۲۲ می بالای پوسته های امنیتی شهر مزارشریف حمله، تعرضی نمودند که درنتیجه، آن سه پوسته تخریب ، (۱۵) نفر افراد

نظامی رژیم هلاك و ۲۲ نفرد دیگر زخمی گردیدند .

منبع علاوه نمود که درین نبرد دونفر مجاهدین شهید و پنج نفر دیگر مجروح گردیده اند .

طبق گزارش مجاهدین قهرمان ولایت بلخ بتاریخ (۲۰) می بالای کندك قلعه، عمراحمد « چوپان » واقع دامنه، کوه " البرز" هم جوار ولسوالی چهاربولك عملیات کردند که درنتیجه، جنگ دوشبانه روز یکتعداد ملیشه، رژیم هلاك ۲۵ نفردیگرشان زخمی و مهمات کندك مذکور با مقادیر زیاد مواد لوژستیکی رابه غنیمت خود درآوردند .

۵۰۰ زره عراقي مهاجرین بیرته خپلو کورونوته ستانه شول

ورځپانه پاکستان - د جوزا (۵) (جنوا) د ملگروملتونودسمدستی امدادی اداري دوینا له مخې د پنځه لکو څخه زیات عراقی پناه گزین د ترکیې د سرحد څخه خپلو کورونوته ستانه شویدی و خبر له مخې تقریباً دري لکه اوشل زره کسان خپلوکورونوته د ستندو په حال

کښې دی . ددغې اداری د ... په اساس په یوه خپاره شوی رپوټ کښې ویل شویدی چې تقریباً یولك او ۲۳ زره پناه گزین همدا اوس د ترکیې اوعراق په سرحدونوکښې موجود اوسېږي دی .

د غاصب ښار د اریتریا د مسلمانانو مبارزینو لخوا ونیول شو

رپوټونه وائی چې په ایتوپیاکښې د ایریتریا مسلمانو مبارزینو د سره سمندرگی د غاصب ښارنیولی دی .

دادهغو دوولویو ښارونو څخه دی چې د دولت په لاس کښې و .

ددموکراتیکومنابعو له قوله ویل کیږی چې د ایریتریا د خلکو د خپلواکی د جبهې مبارزینو وائی چې هغوی د ځمکنیو او سمندری بریدونو په ترڅ کې جې ډیروتیزو بیړیو نه په کښی کاروا‌ځتل شو پرون دا ښار په خپله قبضه کښې راوست . ویل کیږی چې حکومتی قواو له دغو مبارزینو سره لږ مقاومت کړی د غاصب په نیولو سره اوس په ایتوپیا کښې له ادیسه باباته پرته

دټولو لویوښارونو کنترول د مبارزینو په لاس کښې دی . د حکومت بله مخالفه ډله د ایتوپیا د خلکو انقلابی دیموکراتیکه جبهه د ادیسه بابا په لس کیلومتری کښې پرته ده . مگر دغه ډله وایی په لندن کښې د سولی د خبرونه

ع.ع

مؤسسه مطالعاتی هرتیج،امریکا را برای حضور محسوس نظامي در خلیج فارس هدایت میکند

مؤسسه مطالعاتی هرتیج درجدید ترین رهنمود سیاسی خود به دولت بوش برقراری ثبات و امنیت درمنطقه خلیج فارس را به ایجاد توازن قدرت درمنطقه مشروط کرد وگفت برای تحقق این منظور امریکا باید درمنطقه خلیج فارس حضور محسوس نظامی داشته باشد و به تسلیح رژیمهای میانه روطرفدار خود درشرق میانه ادامه دهد .

به گزارش خبرگزاریها ازنیویورك ، مؤسسه هرتیج که با تهیه گزارشات و تحقیقات سیاسی ، اقتصادی راه حل را برای برخورد با مسایل جهانی به دولتهای جمهوری خواه امریکا پیشنهاد میکند درگزارش تازه خود که به « آینده خلیج فارس » اختصاص دارد گفت : امریکا برای شکل دادن به نظام امنیت جدید درمنطقه باید حضور نظامی محسوس درشرق میانه داشته باشد البته این امر به معنای استقرار دایمی نظام امریکا درمنطقه نیست ، زیرا دولتهای میزبان بخصوص عربستان سعودی را تضعیف

میکند وحساسیت مسلمانان را برمی انگیزد که درنهایت به ضرر امریکا است .

اما امریکا باید تجهیزات لازم را برای یك لشکرکشی زرهی بهمراه یك گروه کوچك نظامی درعربستان مستقرکند و یك کشتی طیاره بردارخود را نیز درخلیج فارس نگه دارد .

این مؤسسه همچنان ایجاد یك اتحاد منطقه ای رابه امریکا پیشنهاد کرده اما متذکرشده است که این اتحاد به « ستون» جدید نباید بیانجامد . امریکا به شکل گیری یك اتحاد رسمی درمنطقه نیازدارد . بلکه باید ازفرصت جدید همکاری با کشورهای میانه روخلیج فارس و نیز مصر بهره لازم را بگیرد .

مؤسسه هرتیج همچنین افزوده است : امریکا باید متحدین منطقه ای خودراکماکان تسلیح کند امادر این طریق احتیاط های لازم نیز بایستی بعمل آید زیرا دوستان امروز می توانند به دشمنان فردا تبدیل شود .

ع.ع

مجاهدینو د دامان په ولسوالي کې د کابل رژیم یوه هلیکوپتر الوتکه د جگړې په وخت کمکي ته رانسکوره کړیده

په پیښورکښې دکندهار ولایت یو خبرځاي خبرواکوي چې مجاهدینو دکابل رژیم یوهلیکوپتر دکندهار ولایت ددامان ولسوالي دکندهار کابل دلوې لارې په اوږدو دمومنو په کلي کښې دمي په ۱۹نیټه ماسپښین هغه وخت په « ستنگر» توغندي ځمکي ته رانسکوره کړ کله چې هلیکوپتر

دسیمې دمجاهدینو په مرکزونو دجت الوتکو په شمول بمباري کوله .

درپوټ مطابق دهلیکوپتر عمله وژل شوي او دهوائي ډگر اوښار په شاوخواکي مجاهدینو اودکابل رژیم قواوترمینځ په درندو وسلو سره سخته جگړه روانه ده .

مجاهدینو د تعرضي حملو په ترڅ کې د قندهار په ولایت کې د کابل رژیم ۲۰ تنه پلویان وژلي او ۲ عرادي ټانکونه یې د اورلمبه کړي دي

مجاهدینو د می د میاشتې په ۲۴ نیټه په هغه گډ برید کې چې د قندهار پر هوائی ډگریې ترسره کړ درژیم ۲۰ تنه پلویان وژلی اویوشمیرنی ټپیان کړی دی .

دقندها ولایت څخه په یوبل رپوټ کې ویل شوی چې مجاهدینو د می په ۲۴ نیټه د قندهار ښار په قشله جدید باندې په گډو بریدونوکی درژیم ۱۰ تنه پلویان وژلی او ۳ تنه نورنې مجاهدینوته تسلیمیدوته مجبورکړې اویو عراده ټانك یې د سپرلیو سره د اورلمبه کړی دی .

په رپوټ کې ویل شوی چې مجاهدینو درژیم یوعراده جیپ موټر اویوموټرسیکل په ولجه نیولی دی .

(میدیا)

دقندهارولایت څخه په رارسیدلو رپوټونوکښې ویل شویدی چې

عملیات تهاجمی مجاهدین برپوسته هاي کمربند امنیتي رژیم کابل در سرپل

یك منبع جهادي به (میدیا) گزارش دادکه مجاهدین بروز (۱۹) مي برپوسته هاي امنیتي رژیم واقع دره شیرم نمیدان» مربوط ولسوالي سرپل ولایت جوزجان عملیات نمودند که درنتیجه (۱۷) تن ازافراد نظامي رژیم اسیر ویکعراده موټر

حامل مهمات نظامي به تصرف مجاهدین درامد .

طبق راپور رطي این حمله ، یك میل هاوان ، یك میل زیکویك ، (۲۷) میل کلاشینکوف را مجاهدین به غنیمت گرفتند

دالسلوادور دحکومتي قواؤ او مسلحومبارزینو ترمینځ په اوسنیوونښتوکي لږترلږه (۵۰) تنه وژل شویدي

ورځپانه پاکستان - د جوزا - ۵

د سان سلوادور . د ایلسلوادورڅخه په خبروشویو رپوټونوکښې ویل شویدی چې د حکومتی قواوو او مسلحو مبارزینو ترمینځ سختي نښتي شویدی د خبرونو له مخې ویل کیږی چې په بیلابیلو نښتوکښې لږ ترلږه (۵۰) کسان مړه شویدی ، چې په مړوشویوکسانو کښې

شل تنه پوځیان هم شامل دی د ټپیانو په هکله څه صحیحه اندازه نه ده ښودله شوی . له بلې خوا د ایلسلوادور د حکومت اومبارزینو ترمینځ د یوولس کلنې جگړې د پای ته رسیدلو لپاره دخبرو اترو کوښښونه کولی شی . د یادونې وړده چې د یوولس کلن جنگ په دوران کښې لږ ترلږه (۷۵) زره کسان وژل شویدی .

هفته نامه
اتحاد اسلامی
بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان
دامتیازخاوند : دافغانستان اسلامي اتحاد
دتأسیس نیټه : ۱۳٦٤ کال دعقرب میاشت
خپرونکي اداره : ددعوت وارشاد ریاست فرهنگي څانگه

سرمقاله

جهاد دعزت اوحریت لاره

مسلمانان که غواړي چي په دنیا کښي دعزت ، حریت ، پت اوشرافت ژوند وکړي که غواړي چي دلوړشأن او هیبت څښتنان اوسي ، که غواړي چي په آزاده فضا کښي ، دزړه په اطمینان اوواوینه دخپل خدای بندگي وکړي اودوخت دټولو طواغیتو دظلم اواستثمار له زینديڅخه ازاد اوسي ، که غواړي چي دځمکي دمخ څخه دناروا باداري اوسرداري اودظلم اواستبداد ټغر ټول شي ، که غواړي چي دشیطاني نظامونو پرځای دخدای نظام حاکم اوناقلوي نو دغه هدف ته درسیدو بوازني لاره جهاددی ، خوجهاد دغیر مسلمانو قومونواوملتونو دجنگونو په څیر دوینو توېولو ، دنورو دمحترمو مالونو دلوټولو، دنوروپرشخصي اوملي شتمنیو باندي په ظلم اوناروا سره دخپلي اچولو نوم ندی ، بلکي داسلام په قاموس کښي دجهاد له لفظ سره داسلام او دفي سبیل الله صفتونه وضع شویدي اوپوشمیر ځانگړي شرایط ،ضوابط اوقیود ورته ایښودل شویدي چي کهٔ جهاد له دغو شرایطو ، ضوابطو اوقیودو څخه ووځي توپیانه ورسره داسلامی اونه ورسره دفي سبیل الله صفتونه پوځای کیدای شي بلکي له هغو جنگونو سره به یې هیڅ توپیرنه وي چي ملتونه اوقبیلي یې یو دبل پرضد پدي خاطرکوي چي مادي گټي ترلاسه کړي ، شخصي انتقامونه واخلي ، دنورو زیرمي خپلي کړي ، دنورو ځمکه ونیسي ، پرنوروباداري وچلوي ، دخدای بندگان دځان بندگان وگرځوي ، اودنورو په معصوموبنو اوغوبنو باندي خپل ځانونه وپړسوي اودغو شومو شیطاني اهدافوته درسیدو په خاطر له هر ډول وحشت ، بربریت ، رذالت اوحیواني خویونو څخه کار اخلي داځکه چي دهغوی په جنگونوکښي نه انساني ضوابط شته ، نه اخلاقي اصول اونه قانوني قیود بلکي پدي انگیزنه جنگیږي چي زور ور دژوند حق لري او دکمزورو لپاره داحق نشته ، کمزوري قومونه اوافراد به یا دزور ورو غلامی قبلوی اویا به له ژوند څخه لاس په سرکیږي .

دفي سبیل الله جهاد له شرایطو څخه یو مهم اوتر ټولو لومړی شرط دادی چي دمجاهد هدف به دخدای رضا اودخدای دکلمي لوړول وي نه به په کښي شخصي اهداف ملحوظ وي ، نه ریا ، نه تعصب ، نه شخصي عداوت اودښمني ، نه مال اودولت اونه دځان لپاره چوکی اوقدرت . جهاد دخدای ددین لوري ته ددعوت له وسایلو څخه یوه وسیله ده ، هغه سرچه اوخالص عبادت دی چي دهیڅ ډول شائبی گنجایش پکښي نشته ، هغه سپینه لوحه ده چي بوازي دالله نوم به پکښي لیکل کیږي نور عناوین باید ورسره شریك نشي ، مجاهد باید پدي اراده دجهاد میدان ته ودانگي چي ددنیا ژوند اوددنیا فاني خوندونه دآخرت د نه ختمیدونکی ژوند اولازواله نعمتونو په بدل کښي پلوري الله تعالی دسوره« النساء » په (۷٤) آیت کښي فرمائي :

« دالله په لاره کښي جنگیدل هغو خلکوته په کاردي چي دآخرت په بدل کښي ددنیا ژوند پلوري نوڅوك چي دالله په لاره کښي وجنگیږي اووژل شي یایر لاسی شي هغه ته به ... اروموږ ستر ثواب ورپه برخه کړو » .

یعني دالله په لاره کښي جنگیدل له سره په دنیا باندي دمینو خلکو کارندی ، دادهغو خلکو کاردی چي بوازي دالله خوښي یې هدف وي ، په الله اوآخرت باندي پوره باور ولري اوپه دنیا کښي دخپلي برلاسی اودهوساینې دټولو وسایلو اوخپلي هر رازدنیوي گټې ځارولوته پدي هیله حاضریږي چي خدای خوشاله شي ، پدي دنیاکښي که هرڅه کیږي خوپه آخرت کښي به په هیڅ ډول ددوی قربانی ضائع نشي ، پاتي شول هغه کسان چي دهغو په نظر کښي اصلي ارزښت بوازي ددنیوي گټو اوفاني خوندونه وي نو په حقیقت کښي جهاد کول دهغوی کارندی اونه هغوی ددي خطیر ې لاري لاروبان گڼل کیدای شي .

په بخاري اومسلم کښي یو صحیح حدیث رانقل شویدی چي یو اطرافي سړی دپیغمبر صلی الله علیه وسلم حضورته راغی او عرض یې وکړ : یارسول الله ! یوسړی ددي لپاره جهاد کوي چي غنیمت په لاس راوړي ، بل ددي لپاره جهاد کوي چي توریالي اوباتور ورته وویل شي ، بل ددي لپاره جهاد کوي چي ډیر شهرت پیداکړي ، بل دقومی تعصب لپاره جنگیږي نوله دوی نه کوم یو د خدای دلاري مجاهد دی ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل :

بوازي هغه څوك دخدای دلاري مجاهد دی چي دخدای دکلمي دلوړولوپخاطر جنگیږي .

دیوبل حدیث مضمون دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي لومړنی انسان چي دخدای په محکمه کښي به دقیامت په ورځ وربانذي فیصله صادریږي هغه څوك به وي چي په دنیا کښي شهید شوی وي ، الله تعالی به خپل نعمتونه وریاد کړي اوبیا به ترینه پوښتنه وکړي چي تازما ددغو نعمتونو په مقابل کښي څه وکړل ؟ هغه به عرض وکړي چي یا الله ! زه ستا په لاره کښي ترهغه وجنگیدم ترڅو چي شهید شوم . الله تعالی به وفرمائي ، دروغ دي وویل : ستاجگړه ددي پخاطروه چي خلك درته میړنی او باتور ووائي او دادرته وویل شول بیا به وربانذي فیصله صادره شي او پرمخي به داور خواته راښکودل شي .

مجاهد باید پدي پوه وي چي جهاد پخپل ذات کښي غایه اومقصود ندی بلکي دایوه وسیله او لاره ده چي اصلي هدف ته وربانذي رسیږي اوهغه دخدای پدي ځمکه کښي دخدای بندگانو ته دحق دعوت رسول دي هرکله . او دځمکي په هرگوټ کښي چي دخدای دحق دعوت او دخدای دبندگانو ترمینځ حائل راځي اوبندیزونه ایجادیږي گه دابندیزونه فکري او عقید وي ، که سیاسي وي که مادي اوعسکري وي اوکه نسلي اووطني وي خوچي دداعي اومدعو ترمینځ خنډ کیږي نوددي خنډونو اوبندیزونو ماتولو لپاره بوازنی وسیله چي الله تعالی دمحمدي دین پیروانو ته ښودلی ده هغه في سبیل الله جهاد دی ،اسلام دټولو انسانانو فطري حق دی چي باید ورته ورسول شي ، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دکوم خاص قوم ، خاص هیواد او دخاصي ژبي ویونکو او دخاص نژاد اوجنسیت لرونکو لپاره ندی مبعوث شوی بلکي دټولي ځمکي پرمخ دټولو اوسیدونکو انسانانو لپاره

ص۳

انعکاس توطئه ابرقدرت ها درسازمان ملل

انجنیرعبدالودود «خالد»

از همان آوانیکه جهاد افغانستان داشت قدم هاي متین خود را بخاطر نیل به اهداف پربارش سریعتر مي گذاشت و از بین امواج طوفاني پدیده ها و حوادث راه مي کشود و هیولائي کفر و کمونیزم را به منجلاب نیستي و سقوط تهدید مي نمود و با گذشت هر روز علاوه بر نظم و انسجام در صفوف مقاومت، زمام و اداره انقلاب و مردم رزمنده، مسلمان ما را بدست مي گرفت که این حرکت پیش رونده و کفربر انداز، نظر مجامع کفري بین المللي را بطرف خود معطوف ساخت و آنها با شناخت از نیروي محرکه جهاد و انقلاب و تاریخ مردم افغانستان دریافتند که اگر این روند مسیر طبیعي و حرکي خود را مي پیماید و مطابق برنامه و نقشه خود پیاده مي شود. آنوقت ضرور آژیر خطر براي آنها بصدا در میآید. از همینرو بود که بخاطر کُند ساختن چرخ هاي ماشین متحرك جهاد و انحراف دادن آن از جاده اصلي اش دست اندر کار شدند. با آنکه در بین استعمار و استکبار جهاني بعضاً برسر تقسیم جهان و حصول منافع از ملت ها، مناقشات بروز مي کنند. اما در کوبیدن روح این جهاد بطوري عمومي که منافع مشترك شان ا انعکاس مي داد اختلافي نداشته و دسیسه و مؤامره شان در حق جهاد به عنوان اینکه مسئله افغانستان غیر از طُرق سیاسي، راه حل دیگري ندارد وارد میدان گردید. اولین طرح مشترك دو ابر قدرت که بوسیله سازمان ملل که نقش اساسي آن فقط در برآورده ساختن اهداف و سیاست ابر قدرت ها است در مذاکرات جنوا ظاهر شد. این مذاکرات که تحت سرپرستي سازمان ملل و نظارت کامل روس و امریکا بین حکومت مزدور کابل و پاکستان ادامه یافت بزرگترین خیانت و جفا در حق مردم مسلمان افغانستان بود. خداوند(ج) به آن عده کسانیکه در آن وقت تمایل به این طرح نشان داده و حاضر به اعزام نماینده گان مجاهدین به جینوا شده بودند عفو را نصیب بدارد که تا خود آگاه در دام این توطئه خطرناك گیر مانده بودند.

به همین سلسله دولت نام نهاد و مزدور کابل چندین طرح به اصطلاح آشتي ملي، دیالوگ سیاسي، انتخابات آزاد، لویه جرگه، شریك ساختن مخالفین در حکومت، اوربند، عفو عمومي و غیره را نیز به مشوره روس ها پیش کشید، زیرا روس ها از دوره زمامداري تلخ و نافرجام ترکي، امین و ببرك دریافته بودند که باید در پالیسي و سیاست مزدوران شان تغیر وارد بدارند و راه به ظاهر انعطاف و مصالحه را بخاطر پوشانیدن ظلم و جنایت خود اتخاذ نمودند و براي آرام ساختن حساسیت هاي مردم مسلمان ما که در برابر حزب بدنام دیموکراتیك خلق ؟ داشتند نام آنرا به حزب وطن ؟ مبدل ساختند تا براي عناصریکه ریاست حکومت نجیب را پذیرا مي شوند نیز جهت و دلیل را در دست داده باشند که جریانات وقایع این موضوع را به اثبات رسانید.

قبل از آنکه طرح اخیر سازمان ملل رسماً اعلان شود، تلاش هاي وسیع دیپلماتیکي در جریان بود با تمام جهت هاي ذیدخل بطور مقدماتي راجع به این طرح مذاکره و گفتگو بعمل آمده است و ممکن اسناد توافقات برین طرح بین سازمان ملل و بعضي جهت هاي شامل در قضیه تبادله شده باشد. و فضاي فعلي سیاسي جهاد ما گویائی این واقعیت است و از احتمال بعید نیست که در فردا مردم از اسرار این اسناد باخبر شوند.

طوریکه با ظاهر شدن بعضي حقایق و بدست آمدن بعضي اسناد در ذهنیت و بررسي تحلیل گران نسبت به اوضاع سیاسي جهاد و شخصیت هاي وابسته به آن نیز تغیرات آمده است و آن ناممکن ها را ممکن ساخته است. بار دیگر نیز این جریان تکرار خواهد شد.

در طرح سازمان ملل آمده است که حق تعین سرنوشت براي خود مردم افغانستان است و اگر این حق مختص بمردم افغانستان است پس مداخله روس و امریکا و این طرح سازمان ملل چه مفهومي دارد ؟ بگذارند و بمردم مسلمان ما موقع بدهند که در فضاي دور از مداخله بیگانگان سرنوشت خود را خود تعین نمایند.

طرح سازمان ملل خواهان یك دیالوگ سیاسي بین الافغاني است. اصلاً دیالوگ و گفتگو باکي و بخاطر چي ! اگر منظور دیالوگ با حکومت مزدور نجیب و یا فراریان دور از وطن باشد. ملت مسلمان هیچگاه حاضر به چنین دیالوگ نمي شوند. ملت مسلمان ما بخاطر انهدام کفر و سقوط رژیم جنایتکار کمونست ها مي رزمند و در طول (١٤) سال جهاد مسلحانه خود بیش از (١٦) لك شهید قرباني دادند. پس امروز چطور با این جنایت کاران که باید محاکمه شوند روي سرنوشت مردم افغانستان مذاکره نمود ؟ هر جهت اینکه زمینه این نوع مذاکرات را مساعد مي سازد مداخله مستقیم و آشکار آنرا در امور داخلي افغانستان نشان میدهد و اگر عناصر از داخل صف به چنین مذاکره حاضرند آنها نیز در خدمت و تصرف دشمنان این جهاد بوده و دشمني شان با ملت مسلمان افغانستان ثابت است. مردم مسلمان ما خواهان یك نظام اسلامي اند و این خواست شان از راه مذاکره با ملحدین و کمونست ها و جهت هاي بیطرف و فراري هرگز مساعد شده نمي تواند زیرا برنامه و پروگرام اسلامي هیچگاهي در پهلوي برنامه کفر و الحاد قرار گرفته نمي تواند این امر محال است و در قاموس اسلام وجود ندارد و اگر عنصر در جستجوي این راه هستند حساب آنها از ملت مسلمان ما جدا است و در مجموع مذاکره و شریك شدن در یك دور انتقالي با کمونست ها، ملحدین و دیگر عناصر نا مسلمان و ملحد محکوم و مردود است و هیچگاهي یك موحد با یك ملحد و منکر از خدا، راجع به سرنوشت یك جماعت مسلمان تصمیم اتخاذ کرده نمي تواند.

طرح سازمان ملل خواهان حکومت با پایه هاي وسیع است که از طریق تشکیل یك دوره انتقالي بوجود میآید درین طرح نیت شوم آنها واضح است منظور از پایه هاي وسیع آنست که در آینده افغانستان براي عناصر ملحد و کمونست و مفسدین غربي راه فعالیت باز گردد و با این توطئه خود تصمیم دارند تا از برپائي یك حکومت اسلامي که زخم دل براي شان

احقپالونکي بیبیاني

ترجمه اوتلخیص «کشاف»

حضرت ام شریك دوسیه رضی الله تعالی عنها

حضرت ام شریك دوسیه رضی الله تعالی عنها

حضرت ام شریك دوسیه رضی الله تعالی عنها دلوړی مرتبي لرونکی صحابیاتو له جملي څخه ده خوتعجب دی چي له شهرت سره سره دهغي شخصي اوکورني حالت پټ پاتي شوی دی . سیرت پوهانو دهغي اسم محصنه اودهغي دنسب لړی نده بیان کړي ، همدومره یې لیکلي دي چي هغه ددوس قبیلي ته منسوبه ده دغه قبیله دیمن په یوه گوشه کښي میشته وه . معلومه نده چي ام شریك کله اوپه څه ډول مکي ته راغلي وه البته یوشمیر سیرت لیکونکو ویلي دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم چي کله له بعثت نه وروسته دحق بلنه پیل کړه ، هغه په مکه معظمه کښي اوسیدله . الله تعالی هغي ته ډیر صالح فطرت ورکړی ؤ ، سمدلاسه یې دتوحید دعوت ته لبیك وویل او په دي ترتیب دسابقون الاولون له مقدسي ډلي څخه وشمیرله شوه .

علامه ابن سعد په طبقات کښي ویلي دي کله چي حضرت ام شریك رضی الله تعالی عنها اسلام قبول کړ نو مشرکانو هغه په سره گرمی کښي ودروله ، هغي په دي حالت کښي له شاتو سره ډوډی خوړله . اوبه یې وربانذي بندي کړي وي . کله چي دري ورځي تیري شوي نو مشرکانو ورته وویل ، تاچي کوم دین غوره کړی دی هغه پریږده ، هغه ددوی په خبره له دي کبله نه پوهیدله چي ددریو ورځو تکلیف دهغي حواس خراب کړي وو خو په پای کښي چي دوی دآسمان خواته گوته ونیوله نو هغه ددوی په مطلب ورپوهیدله چي داخلك له مانه دتوحید پریښودلو غوښتنه کوي نو ځواب یې ورکړ : « په خدای قسم دی چي زه پرتل په همدي دین باندي ټینگه ولاړه یم » .

حضرت ام شریك یوازي په خپل اسلام راوړلو باندي اکتفاء ونکړه بلکي په ډیر نشاط سره به یې دقریشو ښځو ته داسلام دعوت ورکاوه . علامه ابن اثیر په اسد الغابه کښي لیکلي دي چي ام شریك رضی الله تعالی عنها به داسلام په پیل کښي دقریشو ښځې اسلام ته دعوت کولی او هغوته به یې داسلام تبلیغ کاوه .

دقریشومشرکانو چي دهغي په پټ فعالیتبباندي پوهیدل نو هغه یې له مکي نه وایستله .

سیرت لیکونکو دحضرت ام شریك رضی الله تعالی عنها د هجرت تاریخ ندی لیکلی خوبومره یې ویلي دي چي هغي هجرت وکړ او په مدینه منوره کښي یې دایمي استوگنه غوره کړه . په سنن نسائی کښي راغلي دي چي حضرت ام شریك رضی الله تعالی عنها یوه شتمنه اوډیره سخي صحابیه وه اوخلکوته به یې په ورین تندی اواخلاص سره ډوډی ورکوله گواکي دهغي کور عمومي میلمستون و ، له همدي کبله کله به چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دباندي څخه کوم میلمانه راتلل هغوی به زیاتره دحضرت ام شریك رضی الله تعالی عنها په میلمستون کښي اوسیدل دصحیح مسلم له یوراویت نه معلومیږي چي له هجرت نه مخکښي په مکه کښي هم حضرت ام شریك رضی الله تعالی عنها دنویو مسلمانیدونکو خلکو کفالت پرغاړه اخیستی ؤ دابن سعد په طبقات کښي راغلي دي چي مشهوري صحابیه حضرت فاطمه بنت قیس ته چي په لسم هجری کال کښي دهغي میړه ابوعمرو حفص بن مغیره رضی الله تعالی عنه طلاق ورکړ نورسول الله صلی الله علیه وسلم لومړی هدایت ورکړ چي دخپل عدت موده دحضرت ام شریك رضی الله تعالی عنها په کورکښي تیره کړي خو وروسته یې وفرمایل چي دام شریك کورته زیات میلمانه تگ راتگ لري او ورسره دهغي خپلوان هم اوسیږي هلته به ستر ونکړای شي ، دخپل عدت موده دخپل نابینا تره زوی عبدالله ابن ام مکتوم رضی الله تعالی عنه په کورکښي تیره کړه .

له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دحضرت ام شریك رضی الله تعالی عنها ډیر زیات محبت اوعقیدتمندی وه . علامه ابن سعد (رح) ویلي دي چي له هغي سره یوه چرمی دبه وه ژیړ غوړي په کښي ؤ له هغي نه به یې پیغمبر علیه الصلوة والسلام ته دهدیي په ډول غوړي لیږل دخدای قدرت ؤ چي په دي دبه کښي داغوړي هیڅکله نه ختمیدل ، له هغي نه به یې خپلو بچیانو ته هم ورکول . یوه ورځ یې دبه راچپه کړه غوښتل یې چي غوړي په کښي وگوري چي څومره پاتي دي . همغه ورځ هغه دبه له غوړیو نه خالي شوه . حضرت ام شریك درسول الله صلی الله علیه وسلم حضورته ورغله داواقعه یې ورته عرض کړه . رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : « که تادابه نه وای چپه کړي نوترډیري مودي پوري به داغوړي په کښي پاتي ؤ »

دحضرت ام شریك رضی الله تعالی عنها دوفات کال اودژوند نور حالات معلوم ندي .

(رضی الله تعالی عنها)

استعمار او نړیوال تبلیغاتي وسایل

په اسلامي هیوادونوکښي د استعمار تبلیغاتي وسایل

په تیره گڼه کښی مو د تبلیغاتو په تاریخ او په اسلامی هیوادونوکښی د فرهنگی مقابلي په تاریخ خپل بحث ته دوام ورکړ ، اوس غواړو د علمی گروهنی دهغو خپو عواملوته کتنه وکړو چي په مختلفو طریقوسره د اسلامی تمدن او فرهنگ د بنسټ د له مینځه وړلو هدف تعقیبوي .

الف : دځوانانو ښوونه :

غربیانو دفرهنگي استعمار په ترڅ کښي دمسلمانو ځوانانو دزده کړی له پاره یوشمیر مرکزونه جوړ کړل .

په مصر کښي دانگلستان استازی «لرلوید» په ۱۹۲٦ میلادي کال کښي داسکندریې دویکتورا پوهنځي دیوی غونډی په ترڅ کښی وویل : « ددغي پوهنځي محصلین د ۸ یا ۹ مختلفو نژادونو څخه وو ، مصریان ، یونانیان ، یهودیان ، ایتالیانیان ، سوریان ، ارمنیان ، حبشیان او نور ، دیره زیاته موده نه کیږي چي دغه قومونه لکه څنگه چي بریتانیا غوښتل له یو بل نه جلااومتفرق شول او ددغو ملتونو دجلاکولو توفیق دشاگردانو او معلمینو ددوستانه معاشرت او ټینگو اړیکو له لاري ممکن شو . په دغي پوهنځي کښي روزل شوي زده کوونکي کولای شي زموږپه کړنلاره وپوهیږي اوموږ ته متمایله شي . خوښیږي مي چي احساس کړم چي دویکتوریا پوهنځي افراد انگلیسي فکروتاکي او ددوي خو دختیځ او لویدیځ دتفاهم دایجادولو له پاره یوه وسیله وي » .

دانگلستان حکومت ددغو عالي تعلیمي مرکزونو له لاري بریالی شو چي یوشمیر په غربي فرهنگ سره ورودي اودغو له لاري بیا پوهنتونونو او اسلامی مرکزونو ته نفوذ وکړي . البته باید یوه مهم ټکي ته چي دغربي مؤسسو دکار په سریزه کښي ځای لري اشاره وکړو اوهغه په اسلامی مرکزونو کښي دمسلمانانو دتبلیغاتي اوفرهنگي طرف نیولو په زمینه کښي ددغو مؤسسو نفوذ کول دي لکه په قاهره کښي د « الازهر » په پوهنتون کښي ، په تونس کښي د « الزیتونیه » په پوهنتون کښي او په مراکش کښي د « قرويين » په پوهنتون کښي .

ب) د تبلیغاتي وسایلو قبضه کول :

شاید د تعلیمي مؤسسو په پرتله د غربی تبلیغاتي مؤسسو د عمل میدان ډیرپراخ وي اودا ښکاره خبره ده ځکه چي په یوي تعلمي مؤسسه کښی داغیزي کولو اندازه یوازي د زده کوونکو د یوي برخي له پاره وي په داسي حال کښی چي د تبلغاتي لوډسپیکرونو غږونه د هیواد په ټولوکښی د لري پر تو کسانو غوږوته رسیږي ، د ښکیلاك د هلوځلو څخه د یوه روښانه تصویرد انځورولو له پاره چي د تبلیغي وسایلو په واك کښی نیولوله پاره یې په کاراچوي د مصر د راډیو یوه پیښه راتلل کوو :

انګلیسي کارپېژندونکواومستشارانو تصمیم ونیو چي د مصر راډیو لکه نوري راډیوگاني چي په ابتداکښي - مخکښی له دي چي د راډیو رول اوهدف بیان کړي - ددغي نوي وسیلي د خوشحالو له پاره بي مصروفه کوونکی تفریحي پروگرامونه خپرول (لکه چي بي . بي . سي راډیو هم له ۱۹۲۷ میلادي کال نه مخکښی همداسي وه) خوممصر خلك له دغسي پروگراموتوسره آشنا اوعادت کړي . اوهمدا اوس هم عربي راډیوگاني همدغه سیاست تعقیبوي . په ۱۹۳٤ میلادي کال کښی د مصر دراډیو د اساساتو اوکړنلارو د ټاکلو له پاره چه هغه وخت د انگلیس د استعمارترنظارت لاندي وه ، « مارکوني » شرکت ترنفوذ لاندي وه په قاهره کښي د انگلیس د استعمار دوزارت د کارپېژندونکو غونډه جوړه شوه . دهغو ورانديزونو له جملي څخه چه دغي غونډي ته پیشنهاد شول د

مطبوعاتو د قانون اومطبوعاتي سیالیو په وضع کښي سخت گیري اود بندیزونو پیداکول ؤ ! په داسي ډول چي په لیکوالانو ساحه تنگه او مجبوره شي چي په یوه ترلي چاپیریال کښي قدم واخلي ، د غونډي غړیو د نورو وړاندیزونو له جملي څخه په دغه وړاندیز موافقت وکړ .

ج) د ملي تعصباتو ژوندي کول

مسیحي مبلغینو د اسلامي امت له پیکرڅخه د ملیت گروهنی د فکر په خ.ولو کښي ستررول ولوبوه ملیت گروهنی په ۱۹۲۷ میلادي کال (د مصطفی کمال د حکومت له لومړیو) یعني د ملت گوند د جوړیدو څخه راپدیخوا د عثمانیانو په حکومتي اداروکښي خپل ځای پرانیست . په ۱۹۳۸ میلادي کال کښي د قانون هغه ماده چي اسلام پکښي د یوه رسمي دین په توگه پیژندل شوی ؤ حذفه کړه اودعلم گروهنې نهضت یې داسي تفسیرکړ چه د قوانینو اوحکومتي سازمانونو بنسټونه دي دعلم ، صنعت ، اوتکنالوژۍ پراساس کیښودل شي اودنوی تمدن اودهغه د غوښتنو سره سم دي هماهنگ شي . دین وجداني اوشخصي امردی اوله سیاست څخه دهغه بیلول پراساس کاردی . لکه چي له ټولونه یې وغوښتل څو ملي ترکي ژبه د پردیو د ژبي اوفرهنگ (اسلامی فرهنگ) اوسیاسی ، اجتماعي استعمارنه وساتي . د لومړي نړیوالي جگړي له پای اونوي استعماري نظام له پیل کیدونه وروسته په اسلامی هیواد کښي د عصبیت بیرغونه په ډیره پراخه توگه ښکاره شول دغه بیرغونه د غربیو د یو شمیر فرهنگي کسانو لخوا پورته کړای شوي ؤ . داسی کسان چي د مسیحي میشنریانو په لاس روزل شوي وو، داسی شخصیتونه لکه داکترو یعقوب صروف ، وفارس نمر ، و شبلی شمیل ، و خلیل سعاده ، و جرجی زیدان ، اوداسی نور . داسی کسان چي په یوه زماني مقطع کښي یې غربي مطبوعات تأسیس اودهغو بنسټونه کیښودل . له یوې مودې وروسته ملي گروهنې د اسلامي خاورو په وړاندې خپلې ښې او علامې ځای پرځای کړې . وروسته له هغه چې د عربي هیوادونو مطبوعات د استعمار په لاس کښي د لویې د یوې آلې بڼه لوره کړه اود غربي تبلغاتي وسایلو له پاره یوه مطلوبه مړۍ شوه اود سیاسي پیښو په مینځ کښي هضم شول . غربي قوانینو او مقرراتو اسلامي نړۍ ته خپله لاره پرانیسته لکه چي داسي نوردردوونکي مسائل لکه د ښځي آزادي او اخلاقي فسادونه هم مینځ ته راغلل .

تراوسه هغه سپیره گردونه چي استعمار دعثماني حکومت پرمخ دوړولي ؤ نه ؤ لري شوي چي عثماني حکومت د یوشمیر جدایی غوښتونکو هیوادونو سره اړیکه پیداکړه اوهمدغه جدایی غوښتنه وه چي په ۱۹۲٤ میلادي کال کښي یې د عثماني خلافت د سقوط موجبات برابرکړل . له دغه ځایه چي په دویمه نړیواله جگړه کښي نړیوال وگړو د نسوي او ژاړه استعماردځواکونو دوحشیانه جنگ صحنه شوه ډیر پراخ تحولات مینځ ته راغلل له هغې جملي نه داچي د امریکا متحده ایالات اوشوروی د پخواني استعمار له هیوادونو سره د جگړې په وگرکښي د قواوو د تجدید له پاره د شانه تگ اود قدرتونوترمنځ جگړي ته دنه دانگلو بنسټ کیښود او په هغه وخت کښي جگړي دغو دو هیوادونوته د مینځ ته راتلو اجازه ورکوله . خو وروسته له هغه چي جگړي زیاتره سترقدرتونه له ستونزې تیراو کمزوري کړل ، دوه مستکبرستر ځواکونه د نړۍ پرمخ را ښکاره شول اوهریوه وکولای شول د ځمکي پرنیمي وچي باندي واکمني پیداکړي .

دغه تحول اوبدلون غوښتنه کوي چه په یوه مهم اوښتیزټکي ته چي په بحث پوري مربوطه موضوع ده توجه وکړو اوهغه داچي د هغي پیښي ترڅنگ چي د نړۍ پرمخ مینځ ته راغله اوهغه ویش چي دویمه نړیواله جگړه یې سبب شوه

اسلامي ټولنه

دافغانستان مسلمان او مجاهد ملت چې کومې ملي ځلې شروع کړې ددې یواځنۍ مطلب دادی چې په خپل هیواد کښې اسلامی ټولنه رامینځ ته کړي داسې ټولنه چې هلته قرآنی احکام اونبوی ارشادات حاکم وی خو پدې ترتیب سره به افغانستان او منطقه کښې یوه دائمی سوله اوامنیت قایم شی.

دغه اسلامی ټولنه به نړیوالوته عملاً داوښیی چې دنړیوالې سولې اوامنیت اوبشری افرادو دسعادت لپاره یواځنۍ قانون قرآن دی اویواځې دقرآنی احکامو اونبوی ارشاداتو دتحقق موندلو په صورت کښې کیدلای شې په نړی کښې انسان دانسان دبندگی او غلامی څخه خلاص شی، شرك، الحاد، وحشت، بربریت، ظلم، تجاوز غدر خیانت، ترور، وژنه، فساد او هرنوعه فسق او فجور به خاتمه ومومی، داسلام دمقدس دین دحاکمیت په صورت کښې به داسې ټولنې رامینځ ته شی چې هلته به داستعمار، استثمار اواستکبار دالفاظو سره څوك اشنائي ونه لرې ددې په ځای به هلته داخوت اوورور ولی عطوفت، لطف اومهربانی پاکه فضا خوره وی، اوهرڅوك به کولای شی په دغو اسلامی ټولنو کښې په پوره اطمینان، سکون اوارامی سره خپل ژوند ته دوام ورکړی، دافرادو اعمال به یې دوینا مطابق وی، هلته به دمزدور بطرفدار په دعوه دمزدور وینې نه څښل کیږی بلکې دمزدور اجوره به ددة دخولو له وچیدلوڅخه مخکې ورکول کیږی، مزدور اوکاسب به دخدای دوست گڼل کیږی دمحتاج اوفقیر سره به داحسان پاروړو اومنت څخه پرته په اخلاص امداد اومرسته کیږی، په کشرانو ترحم اودمشرانو به عزت کیږی، هلته به غم شریکی او همدردی وی دپل غم به دځان غم گڼل کیږی، دنسب اوحسب مسئله به مطرح نه وی، دخوار اوخان، فقیر اوملك، شاه اوگدا، نادار اوشتمن ترمیځ به بی موجبه امتیازونه نه وی، دلوړتیا اوبرتری معیار به تقوی پرهیزگاری اودالله تبارك وتعالی څخه ویره وی هلته به قانون داسلامی عدالت اومساوات په بنا په امر اومامور یوشان تطبیق کیږی چې پدې ارتباط دمصر دفاتح اووالی عمرو بن العاص دزوی مجازات کیدل دغیچا څخه پټ ندی اوهغه داسې چې یوه ورځ یوه قبطی دمصردوالی عمرو بن العاص له زوی سره داس دسپرلی مسابقه وکړه چې په نتیجه کې قبطی دوالی دزوی نه مخکې شو کله یې چې دمسابقې دجائزې غوښتنه تری وکړه نودعمرو بن العاص زوی نه یې زور ورکړ قبطی یې وواهه او ورته یې وویل نه مانه پیژنی؟ زه ستا دبادار عمرو بن العاص دمصر دفاتح اووالی زوی یم. قبطی هم داسلامی تعلیماتو په رڼاکې داونښوزغملی او دقبطی پلار دمصر نه دمدینې په لور ددې لپاره روان شو چې حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ته واقعه عرض کړی همداسې وشول چې دحج په موسم کې بیا حضرت عمر رضی الله تعالی عنه دټولو خلکو په مخکې دقبطی دزوی قصاص واخیست اودقبطی ځوی ته یې وویل ووهه دادبادار ځوی دی ووهه موږ باداران نه پیژنو. داخو داسلامی قانون په بنا داسلامی خلافت داسلامی والی دځوی حال شو، اوهغه هم دداسې یوقبطی په مقابل کښې چې لاتراوسه په خپل دین ولاړ پاتې وو او دروميانو ددورو اولښتو لاندې لوی شوی وو اوس به داسلامی ټولنې دیوبل والی حال وګورو.

حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه دخپل خلافت په دورکښې سعید دعامر زوی ته وویل چې زه غواړم تادحمص والی مقرر کړم سعید رضی الله تعالی عنه انکار وکړ خوبحضرت عمر رضی الله تعالی عنه دزیات ټینگار اوغصی څخه وروسته سعید رضی الله تعالی عنه دی ته حاضربوی چې دحمص والی شی. حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ورته وویل خومره معاش درته وټاکم هغه ورته وائی په معاش به څه وکړم گذاره می روانه ده سعید لاړ اوبی معاشه دحمص والی شو اوبولایت په کاروبوتی پیل وکړ، هغه د حمص والی وو خود خورا ك دنشت والی له کبله به دهغه په کورکی خوړځی اوبه بلیده اویوه جوړه جامه یې درلوده کله به یې چې مینځله ترهغې به ورته

«مسلسل»

ناست وو څو به چې وچه شوه اوبیابه یې واغوستله، څه موده وروسته حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ددة حال څخه خبربړی یو زردیناره یی ورولیږل چې دژوند چاری پری برابری کړی خوکله چې دینارونه مخی ورته ایښودل کیږی دالحمدلله په ځای انا لله وانااليه راجعون وائی گواکې چې ددة کورته کوم آفت اومصیبت راغلی ؤ اوپه ډیر تلوار یې داټول دینارونه په یې ووژلو، یتیمانو کونډو اوفقیرانو باندې تقسیم کړل، اوبده ندة چې دموضوع په ارتباط داسلامی خلافت دخلیفه اوامیر په هکله هم څه واورو اوهغه داچې حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ته یې ددة دخلافت په وخت کې ملگرو وویل چې اوربشینه ډوډی سخته اوبې خونده وی که ستا اجازه وی دې نه وروسته به تاته غلمینه یعنی دغنموډوډۍ تیاروو حضرت عمر رضی الله تعالی عنه په ځواب کې ورته وویل داکار به هله کوو چې زما ترامارت لاندې ټولو خلکوته غلمینه ډوډۍ ورسیږی.

بلی داداسلامی ټولنې غوړی وو، دادهغې اسلامی ټولنې غوړی وو چې په مدینه منوره کی یې پیغمبر علیه السلام تهداب اوښنښ کیښود په لمړنیو وختونوکی ددغې اسلامی ټولنې مساحت څوکیلومتره او دنفوسو شمیریې دڅو سوو څخه زیات نه وو، خوهغه یوه اسلامی ټولنه وه هلته الهی دین حاکمیت درلود هلته هرڅه دالهی دین مطابق سرته رسیدل، سیاست اواقتصاد، معاملات، معاهدات راکړه ورکړه خبری اتری اوراشه درشه هرڅه اسلامی وه همدا علت وه چې هغوی په ډیر کم وخت کی همدی دروکی ټولنې ته دومره وسعت اوفراخی ورکړه چې نړیوال ورته حیران وو اودنړی په گوټ گوټ کی اسلامی ټولنې تاسیس اوجوړی شوی. په دغو ټولنو کی داسی خلك وروزل شول چې هغوی خپل ژوند دالله تعالی اودهغه درسول رضا، داسلام دمقدس دین دعوت او دالهی دین حاکمیت ته وقف کړی وو، هغوی ددغه مقدس دین خپرول اونشرول خپله اساسی وجیبه اوفریضه گڼله دهغوی هرعمل دقرآن او احادیثو مطابق وو، احیاناً به چې کله دکومې گناه مرتکب شول نو په خپله خوښه به یې دقرآنی احکامو مطابق دسزا مطالبه کوله که دهغوی په مینځ کی اوس چې دکفری ځواکونو وحشیانه یرغلونو، انسان عامه وژنو او دانسان په عزت، آبرو اوحیا باندی لوبی کولو نړیوال پدی پوه کړل چې کمونستی پوچ اوبی مفهومه مسلك ونشوکړای چې ددوی دسعادت باعث وگرځی دسعادت په ځای یې ورته شقاوت او بدمرغی رامنځ ته کړه له لوږې او قحطی سره یې مخ کړل او دازادی په نوم یې داسارت ځنځیرونه په غاړوکی ورواچول اوهیوادونه یې ورته محبسونه وگرځول اوس نړیوال دافغانستان له جهادڅخه په الهام اخیستوسره دمستکبرینو په مقابل کی قیامونه کوی اودکمونیزم دپوچ نظام چلوونکی حکومتونه یې څه راپرځولی او متباقی یې دراپرځولو په حال کی دی اویه غرب کی هم خلك د بیکاریو، دنشه یی څیزونو اوعصبی ناروغیو دزیات والی له امله چې دفسق اولادینت څخه یې سرچینه نیولی په تنگ شوی اوله دغه ځنگلی اوحیوانی ژوند څخه دخلاصون په لټه کی دی.

نویدی حساس وخت کښې داسلامی هیوادونو، حکومتونو، ملتونو، تنظیمونو اومسلمانانو لپاره دهرڅه نه مخکې په خپلو منځوکی اسلامی یووالی پیداکول، په خپلو هیوادونو کی الهی دین حاکم گرځول، اوپه واقعی شکل سره دقرآنی احکامو اونبوی ارشاداتو څخه پیروی کول او بیانړیوال داسلامی مقدس دین ته دعوتول ضروری دی.

که موږ په خپلو ټولنوکی قرآنی احکام حاکم وگرځوو او دژوند ټول اړخونه دالهی هداياتو او دپیغمبر علیه السلام دارشاد اتو سره سم عیار کړو، نو هغه ورځ لری نده چې همدا کفری ځواکونه به داسلامی مقدس دین ته رجوع کوی اودغه دین به سعادت نجات اوفلاح لاره گڼی اویدی ترتیب سره به په نړی کی دادکفری اوطاغوتی قوتونو لخوا خورشوی وحشت،

په اسلامي هیوادونو . . .

اواستعماري نوي هیوادونه ښکاره شول، مهم اود بحث ورنور مسائل هم شته چې ډیر مهم بې په نړی کښې د استعماري مؤسسو اومرکزونو بدلیدل دي چې یوځه تجدید نظرونه پسې کښې ترسره شول اوله ډیرو پرمختللو اونویو لاروچارو اونقشو څخه په هغو کښې استفاده شوی ده.

په تبلیغاتو کښې دماتي پیل

په هغه دوران کښې چې اسلامي هیوادونه داستعمار دمستقیمو قدمونو لاندې ؤ، استعمار په دغو هیوادونو کښې داسلامي فرهنگي ودانې په ورانو لر لاس پورې کې او داهغه وخت ؤ چې عثماني دولت له ژروواداری فسادونو سره لاس اوگریوان ؤ او داسلامي ټولنې ټولنیز شریانونه هم په دغه فساد مبتلا شول. ددغو هیوادونو سیاسي متزلزل موقعیت هم په دی ترڅ کښې منفيِ اغیزې پرځای پریښودي، دغه فکري شاته تلل او داسلامي امت دفکري او فرهنگي اساساتو گډوډیدل دغو عاملو معلول ؤ چې دهغو له جملی نه کولای شو دمنفي او ارتجاعي ارزښتونو تر عنوان لاندې داسلامي ارزښتونو ښودلو او په مقابل کښې په مترقي او متجدد نامه بیا ندې دغربي فرهنگ معرفی کولو ته اشاره وکړو اوله بلې خوا دعثماني نظام حاکمیت ته دهغه دوران د پوهانواو متفکرانو مثبت ځواب پادونه کولای شو، داسې فاسد نظام چې اسلامي هیوادونه یې له فرهنگي اوسیاسي نظره یوه خطرناك لوري ته هدایت کړل. دغه ټول په داسې شرایطو کښې ؤ چې اسلامي امت له هوښیارتیا او سیاسي اوفکري شعور نه بې برخې ؤاو نه پوهیدل چې دعثماني دولت په دولتي اداروکښې څه تیریږی اواستعمار د مسلمانانو په مقابل کښې یوه ډول خطرناکی توطئې طرحه کوي.

اسلامي خاوروته د غربي استعمار د ځواکونو د رسیدلوپه وخت کښې، عثماني امپراطوری خپله وروستي ساویستله اوهمدغه امر استعمارگرانوسره مرسته وکړه څو د مختللو مؤسسو په ایجادولو اوداسې تحریف شویونظریاتو دخورولو لـه لارې چې د اسلامي امت یووالي اواتحاد اود هغه پوهانوته ضربه ورکوي، اسلامي فرهنگ په تدریجي توگه له مینځه یوسي او غربي فرهنگ ته د اسلامي امت د ضمیر په تل کښې ځای ورکړي اوبیایې ژور او پراخ کړي.

استعمارگرانو په اسلامي هیوادونو کښې د غربي فرهنگ د ترویج او خپرولو له پاره له لاندینیو دو لارونه استفاده وکړه:

لومړی: د اسلامي فرهنگ تحریفول

استعمار کتل چې اسلامي فرهنگ د خلکو د هوښیارتیا اصلي عامل دی چې په دغې هوښیارتیاسره به هیڅکله دهغه مطامعو او پراخیا غوښتنې پروگرامونو ته تسلیم نشي. په دې خاطر یې په اسلامي فرهنگ باندې یرغل د غربي فرهنگ د اصولو د یوځای کولو له لارې پیل کړ. په دې ترڅ کښې یوه داسې ډله لیکوالان اود قلم څښتنان چې د غرب په وړاندې یې د حقارت احساس کاوه د استعمار د دغو یې لاری کوونکو برغلونو سره یوځای شول اود استعمار د خبري د انساني ښودلو په لارکښې یې هلې ځلې وکړې. هغه استعمار چې تل یې باطل اوبې ځایه تورونه د اسلامي فرهنگ په پیکر باندې لگول؛ ددغو تورونو څخه مشهورتورونه هغه دي چې «لردکرومر» په خپل کتاب «مصریه نوی عصر» کښې «عنوان کړی دی:

«اسلام د له مینځه تلو په درشل کښې دی اودغه سقوط دهغه په ټولنیز جوهرکښې پروت دی لکه چې د اسلام قوانین وچ اوجامد اودهغه عقیده او اعتقاد قاطع دی.»

دغه منقولې اوتورونه د غرب د طرفدارو لیکوالانو او پوهانو په قلم هم جاري کیدل چې ددغو غرب مشرپانو څخه کولای شو لاندې کسانوته اشاره وکړو:

لطفي السید (۱۹۶۳-۱۹۸۹)

مصري ورځپاڼه لیکونکی او لیکوال چې یوه موده یې په «الجریده» ورځپانه کښې کارکاوه اود مقالو او سیاسي او اجتماعي تحلیلونو په لیکلوسره یې یې خپل دیني ضد افکار خپرول.

«لطفي» ددغه تفکر خورونکي ؤ چې ممکنه نده مصر وکولای شي دداسې خیالاتو او اوهاموسره چې یوشمیر یې «عربي اتحاد» اویوه ډله یې «جامعة اسلامی» بولې، پرمختگ اوترقي وکړي. البته کولای شو دغه ډول غربي مشربه تفکر د «رفاعه طهطاوی» ترزماني هم تعمیم کړو.

«طهطاوی» خپل تحصیلات په فرانسه کښې دهغه هیواد د ډیرو لویو مستشرقینو ترنظرلاندې سرته ورسول. له شلوکلونو نه زیات وخت په فرانسه کښې پاتې او بیا مصرته راستون شو او «الوقایع» ورځپانه یې تاسیس کړه چې

«مخ»

دافغانستان دلانجې دحل ستونزې

تورېږ

که چې افغان مؤمنو اولسو مجاهدینو ددښمن د ملحد رژیم یوه ډیره کلکه اوقوي اډه ونیوله اوفتح یې کړه دښمنوځواکونو په بې شرمی سره د سیاسي حل الي، گولي اوهڅې پیل کړې، هغوی ددې فتحې د اواز په اوریدو په ډیره چالاکی اوپارخطائی دخپلو تبلیغاتي دستگاوله لارې له دې ویرې څخه چې مبادا په نږدې وخت کې په افغانستان کې یوسوچه اسلامي حکومت جوړنه شي دافغانستان د قضیې د سیاسي حل په عرض یې د ملگرو ملتوموسسې اونورو نړیوالو مؤسسوته لاس وروغځاوه.

هغوی په افغانستان کې د اسلامي حکومت د جوړیدو د مخنیوي اودسیاسي حل په پلمه د نجیب اوملحدینو دله شرمه ړکې ماتې په پټولو اوبیل هیوادنه د هغوی د استازیو په تک رانگ سره غواړی چې دمجاهدینو ذهنونه اوفکرونه واړوی اوملحد رژیم په عمر څو ورځې نوری هم ودزیاتې کړی.

دافغانستان ملحد اوهیواد پلورونکی رژیم دروسیې په اشاره سره هماغه خبره کوی چې دقدرت اونورو واکونو د ویشلو د امتیاز په ورکولو سره سیاسي حل ته چمتودی.

دخوست اودهیواد د ځینو نورو سیمو له فتحې اودکابل دگوډاگی رژیم د کمزورۍ اوناتوانۍ وروسته دروسیې د سیاسي استازیو له خوا اعلان کیږی چې که نور هیوادونه پرافغان مجاهدینو وسله بنده کړی، هغوی به هم د کابل په گوډاگي رژیم وسله بنده کړی.

دلته باید وویل شي چې په اوسني حالت کې پخپله روسیه له زیاتو کورنیو سیاسي اواقتصادي ستونزواوگواښو سره مخامخ ده، ورځ په ورځ یې اقتصادي حالت خرابیږی اوښائي چې هغه هیواد په نږدې وخت کې ټوټې ټوټې شي. خوسره ددې هم دروسیې سیاسي مشران هلې ځلې کوی چې ددغه شان حالت مخه ونیسي.

که څه هم له یوې خوا دروسیې پوځي اونظامي کمزورتیا اوس ټولو نړیوالوته په ډاگه شوې، دوارسا پکت اوپوځی تړون یې دړې دړې شوی، د ختیځې اروپا هیوادونه یې له استعمار څخه خلاص شوی او پخپله روسانو د لویدیځ د وسلو په مقابل کې د خپلو وسلو په کمزورتیا اعتراف کړی دی.

له بلې خوا په سیاسي لحاظ هم هغه روسیه اوس نشته چې د امنیت په شوراکې اودملگرو ملتو په نوروغونډوکې به یې ټیپلو اوغیرمنسلکو هیوادو، د امریکا په مقابل کې دروسیې د دریځ پلوي کوله، هغه روسیه اوس نشته چې د ختیځې اروپا د ټولو سوسیالستي هیوادو مشري به یې کوله. خو روسیه چې له دغه شان کړکیچونوسره مخامخ ده اوکورنی حالت یې هم گډوډ دی غواړی چې له پاکستان سره مخامخ خبرې وکړی اوبالاخره له دغې لانجې اومصیبت څخه

ځان وباسي.

سیاسي دروسانو سیاسي، پوځي اواقتصادي کمزوری اوکورنی گډوډ حالت ددې سبب شي چې په راتلونکي وخت کې د افغانستان د مسلمان ملت په مقابل کې له ناروا اوبې ځایه مقاومت نه لاس واخلي او ددې ملت په کورنیو چاروکې له لاس وهنې څخه ډډه وکړی.

په داسې حالت کې چې دروسانو پراخه امپراطوری دړې دړې شوی اوپه هغه هیواد کې دننه گډوډی او مخالفتونه ورځ په ورځ زیاتیږی دهغوی لپاره به دا ښه اوگټوره وي چې له دې وروسته د کابل له وراسته اود رټل شوي رژیم له بې ځایه ملاتړ څخه لاس واخلي. روسان دې په دې پوه شي چې د افغانستان مسلمان ملت په پوره سیاسي درك سره پخپلو سنگرونکي په ښه کلك مقاومت سره جنگیږی اودا امکان نه لري چې د سیاسي حل په چل ول سره افغان قهرمان مجاهدین له خپل دغه ارمان اومقصد څخه چې دیوه سوچه اسلامي حکومت جوړول دی، تیرشی اوهغوی خپله پوځی ماتې د سیاست په ډگرکې په بریالیتوب سره جبیره کړی.

روسان دې په دې پوه شي چې د سیاسي حل په باب به دهغوی هیڅ یوه خبره، ونه کولی شي چې روسان له دغه مصیبت اوکړکیچ څخه خلاص کړی، دهغوی لپاره به دابنه وي چې د خپل هیواد کورنۍ لانجې اوارې کړی خپل یې ورځنۍ اقتصاد د گډوډی له حالت څخه وژغوری اونورو هیوادونه د لاس نیولواو گدائې له حالت څخه خلاص شي.

زموږ د مسلمان ملت دراتلونکي ټاکل د هغو اتلو مجاهدینو حق دیٔ چې د خپل دغه هدف لپاره یې زیاتې ستونزې زغملې، هجرت یې کړی اوزیاتې قربانۍ یې ورکړي دي.

روسان اوس له یوې بلې اشتباه اوسهوې سره مخامخ دي اوهغه داچې غواړي د امریکا په مرسته به په افغانستان کې د یوه سوچه اسلامي حکومت د جوړولو مخه ونیسي، او ددې کار لپاره امریکا د افغانستان د ملت په منځ کې بې اتفاقي اچوي او په ډیره بې شرمی سره په ډاگه وائي چې په افغانستان کې یو سوچه اسلامي حکومت نه غواړی، اوددې شوم پلان دعملي کولو په خاطر دافغانستان د کړکیچ د سیاسي حل ابتکار اونوښت په لاس کې اخلي اودافغانانو په نمایندگی له روس سره خبرې کوي اودغه راز دواړه ابرځواکونه په گډه سره د افغان مسلمان ملت راتلونکي سنجوي، خو موږ په وازگومی وایو چې دا دهغه چا حق دیٔ چې په دغه لارکښې یې ستونزې گاللي او قربانۍ ورکړی دی.

باید وویل شي چې امریکا به په دې لارکې خنډونه پیداکړي اوزموږ ملت به دبې اتفاقیو له کړاوونو سره مخامخ کړي اودلوې جرگې دجوړیدو اوځینو نورو پلانونو په نوموټویه هڅه کوي چې افغانی ټولنه په سیمواوقوموټو باندې ووېشي، خو دهغوی دغه فعالیتونه اوکارونه به ډیر زرروسوا شي اوپرزرپه د اسلام ددښمنانو مخونه تور شي.

پداسې حالت کښې چې د مزدور ملحد رژیم دله منځه وړلو لپاره دومره وخت نه دی پاتې اوله بلې خوا د افغانستان مجاهد ولس زړتروزه د یوه اسلامي حکومت د جوړولو اودخپل گران هیواد دودانولو لیوال دیٔ، که د اسلام دښمنان له بې نتیجې مقاومت څخه لاس واخلي اوله قدرت څخه گوښه شي اوخپل ځای یوه هغه حکومت ته چې د جهادي ځواکونو د ملو وړدی، پریږدی، کیدایٔ شي چې دافغانستان د لانجې د حل لپاره یوازینی دحل لاره وی. کنه نودمجاهدینوله خوا د پوځي بریالیتوب له لارې پرته بله هیڅ لاره نشته اوس.

سرمقاله . . .

دهادی او پیغمبر په صفت لیږل شویدی لکه چې دسوره «سبا» په (۲۸) آیت کښې فرمائی: «ای پیغمبره! موږ دټولو انسانانو لپاره ته زیری ورکوونکی او ویرونکی لیږلی یې خو زیاتره خلك نه پوهیږی» دسوره «الاعراف» په (۱۵۸) آیت کښې فرمائی: «ای پیغمبره! ووایه چې ای انسانانو! زه ستاسې ټولو لوری ته دهغه خدای استازی یم چې دځمکې او اسمانونو دباچاتی مالك دی، له هغه پرته بل خدای نشته، دژوند ښښلو اومرگ ورکولو واکمن همغه دی نو په الله اودهغه په هغه امی نبی او استازی باندې ایمان راوړی، چې الله او دهغه ارشادات منی، اوتاسې دهغه پیروی غوره کړی، ښائی چې سمه لاره ومومی.» دسوره «المائده» په (۶۷) آیت کښې الله تعالی خپل پیغمبر ته امرکوی:

«ای پیغمبره! څه چې ستا دپروردگار له خواپرتانازل شویدی هغه خلکوته ورسوه که داسې دې ونکړل نو دهغه دپیغمبری حق دې ادانکړ، الله خلکو له شرڅخه ستا ژغوروونکی دی، باوولره چې هغه به هیڅکله (ستا په مقابل کښې) کافرانو ته دبری لاره ونه ښیی» دسوره «الصف» په (۹) آیت کښې فرمائی: «الله همغه ذات دی چې خپل رسول یې له هدایت اوحق دین سره ددې لپاره ولیږه چې دغه حق دین دژوند پرټول نظام باندې برلاسی کړی اگر که داکار دمشرکانو بدیښی» یعنی هغه کسان چې دالله له بندگی سره دنورو بندگی یوځای کوی او دالله له نظام سره نور نظاموته گټوی پدې خبره هیڅکله ندی خوښ چې دژوند ټول نظام سرترپایه دیوه خدای پرهدایت او اطاعت باندې ولاړوی، پدې خبره ټینگار کوی چې دیوه خدای پرځای دنورو باطلو معبودانو داطاعت پړی پخپله غاړه کښې واچوی اودخپلو عقیدو، اخلاقو، تهذیب اوتمدن ښست په هری فلسفی او مفکوری باندې چې دوی نفسی هوسونه یې غوښتنه کوی کیږدی ددغسې مشرکو اوگمراهو انسانانو پرخلاف ویل کیږی چې دالله رسول له هغو سره دروغجن جوړې لپاره ندی لیږل شوی بلکې ددې لپاره لیږل شویدی چې دالله لخوا چې هغه کوم هدایت اوحق دین راوړیدی هغه دانسانانو دژوندنی نظام پرهره څانگه باندې غالب کړی، هغه به په هرصورت دغه ماموریت سرته رسوی که کافران اومشرکان یې خوښ کړی اوکه یې خوښ نکړی او که ددین دښمنان دخپل ټول طاقت په کار اچولو سره دحق دعوت په مخ کښې خنډونه راولاړوی هم خو دپیغمبر دغه پروگرام به په هرحال ترسره کیږی.

فی سبیل الله مجاهد باید پرخپله اغزنه او له مصیبوتونو ډکه لاره باندې له دې هوښیاری سره ثابت قدم مخ په وړاندې روان اوسی چې کافران هیڅکله نه غواړی دحق دعوت خپورشی، هغوی ددعوت دپروگرام دشنډولو پخاطر هم زور استعمالوی اوهم تزویر، هم دجنگ اوقتال میدان گرموی او هم دشر او فساد طوفان برپا کوی اوله مؤمنانو سره دهغوی دښمنی ته پخلا کیدونکی ده چې له دغه حقیقت څخه الله تعالی خپل مؤمن بندگان دسوره «بقره» په (۱۰۵) آیت کښې داسې خبروي: «کافران که اهل کتاب وی اوکه مشرکان دانه خوښوی چې ستاسې درب لخوادې تاسې ته څه ښیگڼه راشی خو دالله چې هرچاته خوښه شی دخپل رحمت لپاره یې غوره کوی اوهغه دډیری لویې مهربانۍ لوروونکی دی.» کله چې له دغسې هوښیاری اوسیاسی اگاهی سره جهاد پیل کیږی نو یقینی خبره ده چې مجاهدین به جهاد ته ترهغه پوری دوام ورکوی چې داسلامی دعوت دخپریدو په مخ کښې داسلام ددښمنانو لخوا ټول ایجاد شوی خنډونه اینسته شی اودخدای بندگانو ته دهغوی فطری اوانسانی حق ورسیږی چې هغه دټولو طاغوتی قوانینو او رژیمونو څخه راوتل او دخدای دنظام په سیوری کښې ددعوت اوحریت ژوند تیرول دی.

انعکاس توطئه . . .

است جلوگیري کرده باشند. خط اسلام یك خط است در آن سازش وجود ندارد با خط و فکر خلقي و پرچمي لیبرال و دیموکرات هیچگاهي در هم نمي آمیزد و امکان اشتراك مسلمانان بااین اقشار در یك حکومت غیر ممکن است. و اگر عناصر حاضر به پیاده ساختن چنین فورمول هستند و پرده از اسلام برخ دارند مطمئن باشند که به چنین خیالي دست نخواهند یافت و مجاهدین غیرت مند ما به حفاظت و پاسداري ازین جهاد و آرمان آن در سنگرها قرار دارند.

این طرح از اوریند نیز نام مي برد و اصلاً اوریند با کي صورت بگیرد؟ این اوریند را نجیب قبلاً هم پیشنهاد کرده بود و این اوریند توطئه خطرناکي است که براي مستحکم ساختن پایه هاي رژیم نجیب بکار گرفته مي شود. اگر سازمان ملل مي خواهد که بوسیله اوریند جنگ و خونریزي در افغانستان خاتمه پیدا نماید، چرا عامل اصلي آنرا از میان بر نمي دارد و آن حکومت ملحد نجیب است و اگر منظور آنست که راه مذاکره و مصالحه بوجود آید درینصورت ملت مسلمان افغانستان هیچوقت با حکومت نجیب مذاکره و مصالحه ندارد و تا زمانیکه این حکومت و در مجموع کیان کفر و باطل نابود نگردیده باشد دست از جهاد مسلحانه خود برنداشته و به این توطئه بنام اوریند تسلیم نخواهند شد و اگر منظور اوریند در دوره انتقالي است، باید قبل از اوریند، حکومت نجیب و همه بقایاي کفر که عامل اصلي قتل و کشتار اند از میان برداشته شود آنوقت ضرورت به اوریند احساس نمي شود.

درین طرح راجع به عودت مهاجرین بشکل داوطلبانه تذکر بعمل آمده است. برگشت مهاجرین درموجودیت یك نظام کفري که (۱٤) سال بان درجنگ بودند غیرممکن است. زمینه بازگشت مهاجرین وقتي آماده میشود که عامل اصلي مانع رفتن مهاجرین ازمیان برداشته شود وبرگشت آنها بشکل آبرومندانه فقط در موجودیت یك نظام اسلامي وحکومت اسلامي در افغانستان میسرشده مي تواند.

درین طرح راجع به قطع ارسال تسلیحات به جوانب درگیر تذکرداده شده است. روسها همیشه بخاطر حمایت مزدوران خود، همه قوانین وموازین بین المللي را زیر پا گذاشتند کنترول مرزهاي افغانستان را با روسها از آنطریق تسلیحات وارد کشورما مي شود چي کسي بدوش گرفته میتواند و آیا این امکانات موجود است. همین حالا طیارات روس ازآنطرف دریا براي بمباردمان مواضع مجاهدین پرواز میدارند روسها هیچوقت ارسال اسلحه و امکانا ت را براي رژم نجیب قطع نمي دارند و اگر حمایت روسها ازین رژیم مزدور نباشد نمي تواند یك روزي هم دوام بیاوره.

برادران مسلمان! درین مرحله حساس جهاد افغانستان همه دشمنان به سطح بین المللي با هم دریك توطئه مشترك جهت ختم روحیه مقاومت و جهاد شریك مي باشند تا به آنها امکان دهد که نیروي عقیده و ایمان را قبل از آنکه پایه هایش در خرابه هاي ظلم و استبداد کمونست ها محکم گردد ضربه زنند.

اي مجاهدین دلیر و اي بندگان مخلص خداوند شما در طول جهاد مسلحانه تان با قرباني ها و مقاومت خویش آرزوها و امید هاي شیاطین و طواغیت معاصر را مغلوب ساختید. تزلزل در پایه هاي کفر وارد نمودید. هوشیار باشید که خنثي نمودن این همه، فتنه ها و دسایس فقط در استمرار جهاد مسلحانه تان نهفته است. قطع ریشه هاي کفر و الحاد، تأمین امنیت و آزادي این کشور بخون خفته و اقامه نظام راشده اسلامي در آن در تداوم جهاد مسلحانه تان قرار دارد.

و حصول آزادي کامل غیر از قرباني راه دیگري ندارد. این همه، مؤامرات بخاطر جلوگیري از قایم ساختن حکومت اسلامي در افغانستان است. با وحدت و هماهنگي اسلامي با اخلاص و همکاري و با فشرده ساختن سنگرهاي جهاد، هجوم بي امان خود را بر پیکر سوراخ شده کفر وارد نمائید پیروزي از آن شما بوده و حمایت خداوند(ج) را انشا الله با خود وارید.

د هرات مجاهدینو د حکومت لخوا د زنده جان د ولسوالي د نیولو آوازه دروغ وبلله

دهرات له ولایت څخه دمې دمیاشتې په ٢٤ نېټه یو رپوټ رارسیدلی دی اولیکلي دي چې دکابل رژیم دادعوه چې ګنې دهرات ښار په غرب کښې یې دزنده جان ولسوالي اودمجاهدینو مرکزونه په تیرو دوه هفته ایزو جګړو کښې دمجاهدینو څخه نیولي دروغ ګڼلي اوویلي یې دي چې زنده جان اوس هم دمجاهدینو په لاس کښې دي . دبي - بي - سي راډیو دې دکمونیستي رژیم دناروا پروپاګنډې خبرونو دخپرلو څخه پیره وکړي .

رپوټ زیاتوي دکمونیست رژیم دصحرا دطوفان په نوم کوم څمکني اوهوائي پراخ تعرضي بریدونه چې دزنده جان ولسوالي دبې دفاع اوسیدونکو اودسلګونو عسکرو اوملیشه ؤ په وژل کیدلو او تیپي کیدلو (٥٠) عرادي ټانکونو اوموټرویه له مینځه تللو سره دمجاهدینو دمرکزونو دنیولو لپاره پیل کړي وه دمجاهدینو دمتقابلو ګزارونو پواسطه دسختې ماتې سره مخامخ شوي دي .

په پیغام کښې زیاته شوي ده چې پدې عملیاتوکښې درژیم په زرګونو عسکرو او ملیشه ؤ زیاتو ټانکونوتوپونو او (٥٠)

جیت مېګ ٢٧ - ٢٩ الوتکو اویوشمیر هلیکوپټرونو یکې برخه درلوده ، تراوسه دوه جیت الوتکې راښکوږ شوي دي اوسخت ځاني اومالي زیان ورته اوړیدلي دي .

پیغام مطابق دکابل رژیم دالوتکو دبې دریغه بمبارۍ نه تراوسه په زنده جان کښې (٥٠) تنه کلیوال وکړي اومجاهدین شیهدان ، یو شمیر نورټپیان شوي په سل ګونو داستوګنې جونګړې ویجاړې داویه خور سیستم ، باغونه او فصلونه تباه شویدي .

په رپوټ کښې زیاته شویده چې دزنده جان ولسوالي اودمجاهدینو غرني مرکزونه اوس هم دمجاهدینو په کنترول کې دي

درمنطقه ء رامك غزني ٨ تـن ازافـراد دشمن هلاك گـرديد

مرکزولایت غزنی : ١٨ تن از افراد دشمن هلاك ، سه عراده تانك زرهدار و دو عـراده تـانـك زرهـپـوش بـه اثـر فیرمرمی میزائیل و مین های جابجا شـده مـجـاهـدیـن بـه تـاریـخ ١٤١١/١١/٦ درمـنطقه رامك آن ولایت بخاکسترمبدل گردید .

هم چنان به تاریخ ١٤١١/١١/٥ مجاهدین نذکور یك عراده تـانـك زرهپوش ودو عراده وسیله نقلیه دشمن را به اثرفیرمرمی میزائیل به آتش کشیدند . ودرین عملیات یکتن ازمجاهدین به لقاء الله پیوست و چهارتن دیگر زخمی گردیدند .

له روس اوامریکا سره یې ټما ټونه او ...

ناکامي بیان کړه ویې ویل : موږ په دې نظریو اویه دې باندې ټینګار کوو چې د مخلصو اومطرحوقوتونوله یووالی نه پرته زموږ د جهاد کاروپیرمشکل کیږي زه ټولوتنظیمونوته عرض کوم چه راځئ د جهاد داصولو په بنیاد د جهاد د اسلامي مقصدونو د تحقق په خاطر

چې هغه په افغانستان کښې د یوه اسلامي حکومت قایمیدل دي ، په خپل مینځ کښې یووالی قائم کړو اویووالی ته دوحدت لاسونه ورکړو . ځکه په عوض ددې چې موږ روس یا امریکا قانع کړو باید له ټولونه مخکښې موږ په خپل مینځ کښې یووالی قائم کړو . دا ددې له پاره چې موږ یووالی سره قانع نشو نوکه روس اوامریکا له چاسره قانع شي څه کولای شي .

استاد سیاف له دې وروسته اتحاد

کول هم دڅه اصولو په اساس د امکان ورویاله او زیاته یې کړه : هرڅوك چې له دې وروسته د اتحاد دعوه کوي باید اصول وضع کړي اوهغه داچې په افغانستان کښې اسلامي نظام غواړو اودهغوکسانو په لاس یې غواړو چې د افغانستان په جهاد کښې یې ونډه اخیستې وي اوقربانۍ یې ورکړې وي .

استاد سیاف دوحدت له پاره دغه دوه شرطونه پیشنهاد کړل چې یوېه غیراسلامي حل نه منو اوبل په ترڅو چې د جهاد اهداف ترسره شوي نه وي جهاد ته به ادامه ورکوو .

استاد سیاف د جهادی تنظیمونو د اختلافاتو د لرې کولو لپاره خپل نظرداسې بیان کړ : باید د افغانستان

په ارتباط د قراردادونو اوسرې تماسونو په عوض دې داهل نظر اواسلامي اوجهادي شخصیتونو د حل اوعقد شوری جوړه شي یا هغه انتخابات چه څه موده دمخه پیل شوی ؤ هغه ترسره شي یا هماغه پخوانۍ مشورتي شورا دې په خپل شکل اویاله څه تعدیل سره بیرته راوغوښتل شي اویادې عجالتاً انتصابي شوری جوړه شي .

په پای کښې حاضرینو د پروګرام سره سم د افغانستان په موضوع پورې مربوط خپل سوالونه مطرح کړل چې د استاد سیاف لخوا ځوابو نه ورکړل شول .

غونډه د ماسپښین په یوه بجه پای ته ورسیده .

مجاهدین ولسوالي چمتال یکعراده تانك دشمن رابه غنیمت گرفتند

به اساس گذارش واصله ازولایت بلخ مجاهدین قهرمان ولسوالي چمتال بتاریخ ٢١ ثور طي حمله برکندك ٢ آسیاګرك آن ولسوالي بومـوضـع دشـمـن راتخریب ویکعراده تانګ فعال رابه غنیمت گرفتند

گزارش میافزاید که دراین عملیات یك صاحب منصب رژیم کابل نیز به اسارت مجاهدین درامده است تلفات زیاد جاني ومالي به دشمن وارد گردیده است .

دراین عملیات یکتن ازمجاهدین بنام جلات خان که قوماندانی عملیات مذکور بعهده داشت به درجه رفیع شهادت نائل آمده وسه نفر دیگر ازمجاهدین جراحت برداشته اند

پوهاند سیاف د افغانستان په ...

اودا باقي مانده خلك هم تباه شي . اوس خو ماینونو اومنیتی کمربندونو ددې کار مخه نیولې ده خوهغه وخت به داهم نه وي

٢- پدې طرحه کې نه یوازې داچې وطن پلورونکو اووطن ازادونکی یکې په یوه تله باندې تلل شویدي بلکې د پیژندل شوو وطن اوناموس پلورونکو مجرمینو د حیثیت اعاده یکې شویده چې داکار په حقیقت کې نه عدل اونه بشري عرف اومنطق نه د منلو وړدی .

٤- داهلی ځلي چې حتماً دی مجرمین د افغانستان د اینده سرنوشت په ټاکلوکې رول ولري او وطن خرڅوونکي قراریان دي هم یکې برخه ولري ، ددې نیغه معنا داده چې د اهلی ځلی ددې پخاطر رواني دي چې د یوه اسلامي نظام درامنځته کیدلو مخه ونیوله شي کوم چې ټول ملت یې غواړي اودهغې پخاطر یې قرباني ورکړيدی . نو ملل متحد باید پدې هڅه کې نه وي چې د ملتونو د ارادې خلاف نظامونه پرهغوی باندې تحمیل اومسلط کړي .

٥- که ملګری ملتونه په رښتیا سره غواړي چې داستونزه حل شي نو لاره یې داده چې پر روسانو فشار واچول شي ترڅوددغه مزدور رژیم له ملاترڅخه لاس واخلي اوپریږدي چې دا خلك واقعیت ته ځان تسلیم کړي ، اوهغه واقعیت دادی چې د افغانستان مسلمان او مجاهد ولس له دغې کمونیستي ولکې څخه ګرکه لري اوددې ټولی بربادی مسئولین یې بولي نو باید خپله وسله پرځمکه کیږدي او ځان تسلیم کړي .

مایه همدې رابطه د ملګروملتونو ځانګړي استازی ، بینین سیوان ، ته خپل نظر اودریځ پوره څرګند کړی وو ، اودهغه لپاره هم دا مناسبه وه چې هغه یې په نظرکې نیولی وای ، خو نومره باید ووایم چې د افغانستان د مسلمان ولس د ارادې خلاف هیڅ طرحه ، پیشنهاد او وړاندیز به د تطبیق مجال او زمینه پیدانکړي ، اوکه څه نور غمجن حالات وریاندې په داخل کې مرتب شول نو مسئولیت به یې ددې طرحې د خاوندانو پ غاړه وي .

د البنیان خبري اژانس

د ګاندي کونډې د کانګرس د ګوند له مشرۍ نه انکار وکړ

هند ګانګرس چې کوشش کوي دراجیوګاندي په ځای بل څوك وټاکي اودغه سیاسي خالیګاه چې د ګاندي دمرګ له امله پیداشوی ده ډکه کړی نن هم په غونډه لګیادی .

د محلی ګوندونومشران په ټوی دهلی کښې غونډې ته ورغلی وه چې پراخه نمایندګی رامینځ ته شي اوه داسې فیصلې مخنیوی وکړی چې په ګوند کښې درز اچوی .

دیونایتد نیوز خبری ځانګه وائی چې د ګاندی کونډې سونیا دګوند درهبری لپاره دګوند دویم خواهش هم ونه مانه مګر دا لا تائید شوی نه دی .

ددې چوکی لپاره غښ کاندیدان د ګوند پخوانی وزیر وی وی ناراسیم آراو . اوام د ی پتوارادی .

ګاندی د سه شنبې په ورځ د یو بم په چاودنه کښې ووژل شو ، مقاماتو د تحقیقاتو د خبرونو خپرول بند کړی دی . د پولیسو منابع وائی چې ګاندی وېر سیاسی دښمنان درلودل او نباتی چې شخصی اغراض ئی هم ترشاوی . خو پولیس د پیښې په ارتباط د سریلانکا د بیلتون غوښتونکوتامیلانونه تحقیقات کوی . ویل کیږی چې پولیسو د سلونه زیات تامیلان نیولی دی .

په امریکا کښې د یوه اسلامي غورځنګ جوړیدل

د تیرې یکشنبې په ورځ د مې د میاشتې په ١٥ نیټه په واشنګټن کښې یو اسلامي کنفرانس جوړشوی ؤ پدغه کنفرانس کې چې موضوع یې په امریکا کښې د یو قومي اسلامي غورځنګ جوړول ؤ د واشنګټن د ښار د شاوخوا ځینې مسلمانانو او واشنګټن ته نژدې ایالاتو ځینې اسلامي علماؤ ګډون کړی وو .

پاکستاني اصله ډاکټر علی صدیقی او ځینې نورو علماؤ کنفرانس پرخپرالوئینوناوی وکړی .

ډاکتر علی صدیقي په خپلو خبرو کښې وویل : هغه وخت چې اسلام د عربستان په ټاپوزمې کښې ظهور وکړ په عربي ټولنې او ټوله نړۍ کښې خرافاتو حکومت کاوه .

ده وویل : د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د خرافاتو دله منځه وړلو اوناپودې لپاره مبارزې ته ملاوتړله او د خپل قوی عزم په برکت او د خدای جل جلاله په مدد او نصرت یې په عربستان کښې د اسلام نور خپور کړ او وروسته یې روښانو اوقادسیانوته بلنه ورکړه چې د باطل لاره پریږدي اود اسلام پاکه اوسپیڅلې لاره غوره کړي .

ډاکتر صدیقي زیاته کړه چې اسلام د بشریت دین دی اود خپل دغه خاصیت له امله یې په پوره آسانۍ د جهان په ډیرو برخو کښې خپورشو . ډاکتر صدیقي زیاته کړه چه د اسلام په تاریخ کښې دری دوری د تشخیص وړدي . یوه دوره ئې د اسلام د ظهور دوره ده چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په بعثت سره پیل کیږي . دراشدین خلفاو دوره اوله هغوی نه وروسته پورې څه موده احترا کوی .

ده وویل چې د اسلام ئې د عربستان له ټاپوزمې نه ترهند وچین اوفارس پورې پراخه شوله . صدیقي وویل چې د اسلام د عروج له دورې نه وروسته د اسلامي نړۍ د انحطاط دوره ده . صدیقي وویل چې په اسلامي ټولنه کښې د انحطاط نښې هغه وخت ولیدل شوې چې په دغه ټولنه کښې د اسلام له اصولونه انحراف شروع شو . دې وایی چه په دغه کاربانډې اسلامي ټولنه دومره کمزورې شوه چه د فرنګ په مقابل کښې یې له ځان نه دفاع ونکړی شوه او بالاخره مجبوره شوه چې د نورو سلطې ته غاړه کیږدي . اودغه دوره د مسلمانانو د اسارت اوبدبختۍ دوره وه . ډاکټر صدیقي د

اسلام دریمه دوره د اسلام د مجدد عروج دوره بولي . دې وائي چې دغه دوره د رواني ییړې د تقریباً له نیمائي نه پیل کیږي اولا دوام لري . صدیقي څرګندوی چې په دغه دوره کښې اسلامي هیوادونو یویه بل پسې د استعمار له منګولوڅخه ځانونه خلاص کړل اود آزادو هیوادونو په لیکه کښې ودریدل . ډاکتر علي صدیقي څرګندوی چې د اسلام د مجدد عروج په اوسنی مرحله کښې په ډیرو غیراسلامي هیوادونوکښې هم اسلامي ټولنه وده کوي اود مسلمانانو شمیر په کښې اضافه کیږي ده پدې ارتباط د امریکا متحده ایالاتوته

اشاره وکړه اوڅرګنده یې کړه چې اوس په امریکا کښې د مسلمانانو شمیر دومره زیات شوی چې ددغه هیواد په هرسترښارکښې یې جوماتونه اسلامي مرکزونه جوړکړي دي ډاکتر صدیقي وویل چې د امریکا مسلمانان باید یوکارته ډیره توجه وکړي اوهغه په اسلامي روحیه دخپلو ماشومانو روزل دي . له ډاکترصدیقي نه وروسته په واشنګټن کښې د یو محلي جومات امام محمد د الهاشمي « چه یو امریکائي اصله مسلمان دی وینا وکړه ده په امریکا کښې د اسلام او مسلمانانو د تاریخچې له بیانولو نه وروسته وویل چې د امریکا مسلمانان باید د اسلام له روحیې سره سم متحد شي اود اسلام او مسلمانانو د شیګړولپاره یو قوی غورزنګ تشکیل کړي . برسیره پردې ، الهاشمي دا پیشنهاد هم وکړ چې د امریکا مسلمانان دې یوستر علمي مرکزچې د اسلام د ټولو اړخونو په باره کښې په کښې تحقیقات وشي جوړ کړي . په دغه کنفرانس کښې د مانیلا د آیالت (دراك ونډو) د اسلامي مرکز امام د محمد العقر اوځینې نورو اسلامي علماؤ وینااوی وکړې دوی غوښتنه وکړه چې د امریکا مسلمانان دی د ځان لپاره یو قوی اومتحد غورزنګ جوړکړي .

د عاصب بارد ...

مخکې چې ددوشنبې په ورځ کیږي د ادیسه بابا سارنه نیسي . په نیویارك کښې د ملګروملتونوسرمنشي فریزدیکوئیار په ایتوپیاکښې د سمدستي اوربند غږکړی دی چې په خبروکښې دروغی جوړی د کیدوچانس پراخه شي . ملګری ملتونه د ادیسه بابانه خپل ماموریـن اودهغوی کورنی او یاسی . یویل غت انکشاف داچې اسرائیلو ١٥٠٠٠ ایتوپیاتي یهودیان په الوتکوکښې اسرائیلوته بیولې دی . اسرائیل یهودیان ددې ویرې چې هلته به د ایتوپیا په مرکز کښې ایسارنسي اسرائیلوته انتقال کړل . دغه یهودان په الوتکو کښې زیاتره په هوائي ډګرکښې ناست وو اسرائیلوته ولاړل . اسرائیل هیله من دی چې ١٠٠٠ تنه نور پاتې یهودان چې زیاتره د مبارزینو ترکنترول لاندې سیمو کښې دی اسرائیلوته انتقال کړي .

مؤسسه ء مطالعاتي ...

به ادعای هرتیج مسابقه تسلیحاتی به بی ثباتی درمنطقه منجرنخواهد شد . بلکه اگراین اقدام صورت نگیرد خط برهم خوردن توازن قوا به نفع قدرتهای نظیر عراق رخ خواهد داد . اگر امریکا ثبات وامنیت درمنطقه را خواهان است باید متحدین خود یعنی کشورهای میانه رو عرب و نیز اسرائیل را به کشورهای چون عراق ، سوریه و لیبیا برتری دهد و آنهارا برای خود حفظ کند .

دربخش ازگزارش سیاسی مؤسسه هرتیج برضرورت جلوگیری ازگسترش تولید و ذخیره سازی سلاحهای کیمیاوی ، هسته ای ، میکروبی ، و موشکهای بالستیك درشرق میان تاکید شده و آمده است : خلع سلاح شرق میانه برای امریکا یك امرحیاتی است البته طبیعی است که اسرائیل را باید ازاین روند جدا کرد . مؤسسه هرتیج با ادعای اینکه بحران خلیج فارس به ما آموخت که جهان هنوز به یك پولیس نیازدارد افزود : رهبری امریکا درنظام آتی جهان خدشه بردارنیست : اما باید توجه داشت که اداره امورجهان به تنهایی از عهده امریکا برنمی آید و متحدی نیز باید دراین امرخطیرمشارکت کند .

په اسلامي هیوادونو ...

په عربي مطبوعاتوکښې د مستشرقینو لومړی مدرسه شمیرل کیده دغه ورځپاڼه ځکه دداسې مطالبو درلودونکې وه چې د طهطاوي له دیني ضد او فاسد فرهنګ نه یې نشأت اخیستی ؤ .

متأسفانه دغه نوي فاسد فرهنګ چې په غولوونکو اوپو اورنګ سره تزئین شوی ؤ ، پوشپیرتوو ورځپاڼه لیکونکي ، لیکوالان او ادیبان وغولول اولږوخت نه ؤ تیرشوی چې په اسلامي امت کښې د نوي فرهنګی خط راښکاره شو چې خلك یې د عربي دودونو او ادب ګروهني اود اسلامي سنتونو ترك کولو ته دعوت کړل .

له طهطاوي نه وروسته د اسماعیل مظهر « (١٨٩١ - ١٩٦٢) او « یعقوب صروف » هم د غرب ګروهني د خوروونکو په عنوان د مصر په فرهنګي ډګر کښې راښکاره شول چې یعقوب صروف د « المقتطف » او « العربیه » ورځپاڼې له مؤسسینو څخه شمیرل کیده .

وروسته بیا مصری ادیب « طه حسین » په ټول صراحت سره واردانی او فاسد افکار چې ده او دده همفکرانو وریاندې ایمان درلود د ټولو اسلامي او عربي هیوادونو په سطح مطرح کړل . هغه حتی د مسلمانانو په ډیرو با ارزښته مقدساتو باندې چې قرآنکریم دی هم له توږلګولو ډډه ونکړه لکه چې د حضرت ابراهیم (ع) د قصې په هکله چې قرآنکریم کښې هغې ته اشاره شوې ، وویل :

« په قرآنکریم کښې د ابراهیم د قصې موجودیت په دې معنانده چې په تاریخ کښې د ابراهیم په نامه کوم شخصیت موجود ؤ . »

په قرآنکریم پسورې له دغه ناروا تورونو او په تورو کتابونو « د مصر فرهنګي راتلونکې » او « په جاهلي شعرکښې » او ... کښې دهغه د لیکنو څخه په ډاګه ښکاره شوه چې هغه د اسلامي فرهنګ د له مینځه وړلو اود غربي فرهنګ د خورولو په تکل کښې دی .

د هندي پیرې په شلمه لسیزه کښې « محمد حسین هیکل » ، مینځ ته راغی څو د « طه حسین » افکارو ته علمي شکل ورکړي . هغه د مصر اود فرعون د زمانې مصر د مینځ ته راتګ څرګندوالی د « اګوست کنت » د نظریې مطابق چې د عقل د بریالیتوب په هکله دی ، سیل کړ . زیات وخت نه ؤ تیرشوی چې د « منصورفهمي » رامینځ ته شو څو د تیاتر فصول اوغربي نمایش په اسلامي هیواد کښې تیکمیل کړي د « منصورفهمي » یاونوروځان بابللو مصری لیکوالانو اوادیبانو ونشو کولای رهبري چې د عثماني نظام ماته او سقوط د اسلامي احکامو څخه د لرې والي او اعراض په سبب ؤ نه ددې پخاطر چې اسلام د نظام د ساتلو توان نلري . له همدې ځایه دغو کسانو د مسلمانانو د بیرته پاتې توب اود غربیانو رشد درك نکړ بنا د خپلو تورونو تیرې ځوکې یې اسلام ته متوجه کړې .

دویم : دوعظ او ارشاد مجلسونه بوالحی د خلکو په مینځ کښې د تبلیغ وسیله وه چې ددیني مراکزو اود علمي حوزو لخوا سرپرستي کیدل . وروسته له هغه چې اسلامي هیوادونو ته د استعمار پښې خلاصې شوې ، ددغو مرکزونو له مینځه وړل او تهکول ، د کتابتونونوسوځول او ددیني علماوو تبعید ول یې خپل هدف وټاکه اوددغو دیني اوعلمي مرکزونو پرځای یې داسې مؤسسې او مرکزونه جوړکړل چې د خلکو په مینځ کښې به یې استعماري فرهنګ خوروه . دغه مؤسسې په پیل کښې د غربیانو لخوا اداره کیدلې خو یوڅه موده وروسته ددغو هیوادونو محلي غربي مشربوکسانوته وسپارل شوې .

له اوړیاوه : محمدنصیرمدثر

اعلامیه تنظیم علمای قبایل

روزشنبه تاریخ ٤ می ١٩٩١ در دارالعلوم اسلامیه آخور دره آدم خیل واقع کوهات ازطرف علمای (٨) ایجنسی یك مجلس مشترك برگزارگردید .

مجلس پس از تلاوت قرآن کریم تحت صدارت جناب الحاج سید جلال مهتمم جامعه علوم اسلامیه بکار آغاز نمود .

دراولین نشست مجلس که قبل از نماز ظهربود ودرآن علمای باجوړ ، مهمند ایجنسی ، علمای اورکزئی ایجنسی ، علمای کرم ایجنسی ، علمای وزیرستان شمالی و جنوبی و علمای دره آدم خیل شرکت نموده بودند .

دراجلاس علمای کرام طبق اوضاع و احوال و شرایط موجود برضرورت تشکیل یك تنظیم وسیع اصرارورزیدند ، لذا علمای قبائل تنظیمی را بنام تنظیم علمای قبایل تشکیل نموده که روی آن تمام علمای ایجنسی های هشتگانه باهم مشوره نمودند و متعاقب آن تمام علما به اتفاق آراء مولینا روح الله ازمهمند ایجنسی را به حیث رئیس تنظیم علمای قبایل انتخاب نمودند بعد از انتخاب رئیس شوری مذکور به اتفاق آراء مولوی شاه سعید حقانی ، مهمند صافی قندهاری را به حیث منشی عمومی انتخاب نمودند .

سپس مجلس بخاطر ادای نمازظهر ملتوی شد بعد از نماز ظهر مرحله دوم مجلس آغاز گردید که بعد از بحث مفصل فیصله های ذیل بعمل آمد :

١- ما از رئیس جمهور و صدراعظم پاکستان ، خواهان نفاذ شریعت محمدی و حاکمیت قرآن و حدیث بلا تأخیر و ترمیم طبق اعلانات آنها میباشیم . و با قاطعیت مطالبه مینمائیم که هرچه زودتر قوانین سیاه را منسوخ نموده و نفاذ شریعت محمدی را اعلان نمایند .

٢- ما تمام علمای قبایل بطور متحدانه از ملل متحد بویژه از پاکستان میخواهم که قضیه افغانستان بدون شرکت مزدوران طبق آرزووخواهشات مسلمانان افغانستان ، حل و فصل گردد و جلو تاجران گرفته شود ، تا اینکه حکومت اسلامی طبق آرمان والای مجاهدین متحقق شود .

٣- ما علمای قبایل ازهمه رهبران و قوماندانان مجاهدین میخواهیم جهت نابودی و محو دشمنان اسلام باهم متحد شوند ورنه درصورت مخالفت معرکه جاری افغانستان یك حرکت و جنبش قومی بخاطر بدست آوردن منافع مادی خواهد بود .

٤- ما ازملل متحد بالخصوص از امت مسلمه مطالبه مینمائیم که بیك آواز با مسلمانان کشمیر اعلان همکاری نموده و درپهلوی آنان قرارگیرند و علیه دشمنان اسلام و انسانیت بمقابله بپردازند . و ما پاسداران و سپاهیان برحق آزادی کشمیرمیباشیم و به خاطر آزادی کشمیر از ملل متحد تقاضامینمائیم که جلو ظلم ووحشت و خون آشامی را سد نمایند و برای کشمیریان آزادی شخصی داده شود تا سرنوشت خود شان را بدست خود تعیین نمایند .

والسلام

ازطرف تنظیم علمای قبائل

قیام عمومي در ولایت هرات ...

راپورمی افزاید : رژیم نیز که ازتظاهرات وسیع مردم به هراس افتاده است مساجد جامع را باتانك و خود روهای نظامی درمحاصره گرفته و بروز ٢٥ می صدها تن از علماء و موسفیدان شریك در مظاهرات را دستگیر وزندانی نموده است .

گفته میشود تظاهرات اکنون به تمام شهرگسترش یافته ازبرخورد میان تظاهرکنندگان وافراد رژیم وتلفات ناشی ازان تاکنون راپور داده نشده است .

ناظرین اظهارعقیده می کنند که دوام تظاهرات درشهرهرات احتمالاً به قیام عمومی درین شهر تبدیل شده رژیم را دراستانه سقوط قرارخواهد داد بنظرناظران ، احتمالاً دامنه تظاهرات مذکور ازشهر به سایرنقاط این ولایت درحال سرایت است .

ضروری اعلان

دافغانستان داسلامی اتحاد دسیاسی چارو ریاست ټولو مفوکسانو ته چې سږکال دبیت الله شریف دحج نیت ولري خبروکوي چې ډیر ژر دې له خپلو پاسپورټونو ، دوه قطعو عکسونو او پنځه ویشت زره شپږ سوه (٢٥٦٠٠) کلداروسره دسیاسی چارو دریاست دفتر ته مراجعه وکړي .

باید ووېل شي چې دغه پیسې دطیارې دوطرفه ټکټ ، خاك پولی اومعلم پیسې دي . په استوګنځیو کښې داوسیدو مصارف به په خپله دحاجی پرغاړه وي .

اسلامي ټولنه ...

بربریت ، ظلم او فساد ، غدر خیانت انسان وژنه او دانسان په حیا ، ابرو او عزت لوبې ګډ ل پای ته ورسیږي او په نړۍ کې به داسلامي قانون دسیوری لاندې داخوت او ورورۍ په فضاکې به دعدل او انصاف یوه ارامه اومطمئنه ټولنه رامینځ ته شي چې دعام بشریت لپاره به دسعادت اوسکون باعث وګرځي اختلاف اومناقشې صورت مونده نو هغه دقرآني احکامو مطابق حل اوفصل کیدلې ، دهغوی په مینځ کښې نوروولی اړیکې مضبوطې اومحکمې وې خوهغه وروولی اسلامي وروروولی وه چې په نسبي وروروولی غالبه وه دهغوی جهاد او جګړه دالهي دین دحاکمیت په منظور وه اوهغه هم دعدل اوانصاف جګړه وه ، ابوبکر صدیق رضی

الله تعالی عنه داسامه لښکر ته چې درومیانو مقابلې ته روان ؤ داسې وویل : خیانت مه کوی ، شبخون مه وری تړون مه ماتوی ، خلك مه مثله کوی ، واړه هلکان ، زاړه بوډایان او ښځې مه وژنی ، ونی مه باسی اومه یې سوځی اومیوی لرونکی ونې مه پریکوی ، میږی اواوښان دخوراك څخه پیغیر مه حلاله وی تاسویه په ځینو خلکو تیریږی چې دعباډت په ځیریوکی ګوښه شوي دی نودوی همغسې پریږدی اوس نو نخدای په نامه وخوځیږي .

نوپدې اساس باید ووایو چې په نړۍ کې دعزت ، حیا ، ارام ، اطمینان اومصئون ژوند تیرولو یوازې لاو داسلام ترسیوری لاندې ژوند کول دی چې ددارینو فلاح اوکامیابي پکې نغښتې ده

پتــه :

پیښور - پاکستان

P.O.BOX---- 467